نوامبر 2023

د کړاو

کیسه



د طالبانو تر حاکمیت لاندې د افغان مېرمنو ستونزې

لیکواله: یلدا رویان
ایډیټ کوونکي: چلسی سودرهولم و
داکتر جینیفر بینیت

WOMEN'S REGIONAL NETWORK
AFGHANISTAN • PAKISTAN • INDIA
Womankind Worldwide

مننلیک

زه، د مېرمنو د ساحوي شبکې (WRN) څخه د دې څېړنې د ترسره کولو لپاره د زړه له تله مننه کوم، چې د هغو افغان مېرمنو د غږ اوچتولو لپاره يې حياتي بستر وړاندې کړی دی چې غږ يې د طالبانو له خوا غلی شوی دی او نړۍ پرې غوږونه کاڼه کړي دي. زه د چلسي سودرهولم او د مېرمنو د ساحوي شبکې د رهبرۍ مننديه یم چې ماته يې دا فرصت راکړ چې د دې مهم کار يوه برخه واوسم. له وومين‌کاينډ انټرنيشنل څخه هم د دوی د ملاتړ په پار مننه کوم چې له دوی پرته دا پروژه ناشونې وه.

همدا ډول له کريمه بينوني څخه هم ډېره مننه کوم چې ارزښتناک نظرونه او کارونه يې د جنسيتي اپارتايد او جنسيتي ځورونې د مفاهيمو په تعريفولو کې مهم نقش لري. له پروفيسورې آغلې لينډسی م.هاريس څخه هم مننه کوم چې د بهرنۍ ارزوونکې په توګه يې د دې څېړنې د چوکاټ په اصلاح کولو کې مهم نقش درلود. له ټولو بهرنيو ارزوونکو او کتونکو څخه هم مننه کوم چې خپل نظرونه او ارزښتناکې تبصرې يې له موږ سره شريکې کړې چې د راپور په تشکل کې يې مرسته وکړه.

هغو څېړونکو ته هم د زړه له تله خپل درناوی وړاندې کوم چې د ډېټا راغونډولو او ژباړې په برخه کې يې مرسته وکړه، چې په پايله کې يې دا راپور په بريالۍ توګه چمتو کړل شو.

له ايډيټرانو چلسي سودرهولم او ډاکټر جينيفر بينيټ څخه هم د دوی د پر وخت ملاتړ په پار مننه کوم.

په پای کې، زه هغو زړورو افغان مېرمنو ته خپل درناوی وړاندې کوم چې د شديد مخالفت سره سره يې خپلې کيسې او تجربې له موږ سره شريکې کړې. د نړۍ پر مخ د ظالم‌ترينو رژيمونو څخه د يوه تر حاکميت لاندې، دوی د خبرو کولو په تور هم ځورول کيدلی شي، خو دوی خپل غږ پورته کړ. د دوی پياوړيجرئت او استقامت زما لپاره د الهام سرچينه ده.

يلدا رويان

اعتبار عکس: نجيب الله مسافر

لیک لړ

د مېرمنو د ساحوي شبکې په اړه 2

لنډيزونه: 3

اجرائيوي لنډيز 4

مخينه او وضعيت: د تاريخ سيوريځارل 7

1. د محکوميت انکازې: د طالبانو واکمني (۱۹۹۶ – ۲۰۰۱) 7

2. د واک ته رسيدو په لټه: سفر (۲۰۰۲-۲۰۲۱) 7

3. د ژمنو ماتول: پر نړیوال ستيج د افغانستان ماتې کړې ژمنې 9

4. تيارو ته ورګرځيدل: د طالبانو د بياواکمنيدو پايلې (۲۰۲۱ څخه تر اوسه) 10

1.4. د جنسيتي ځورونې خطرونه 15

2.4. جنسيتي اپارتايد 15

د څېړنې چوکاټ 16

1. موخې او د څېړنې ساحه 16

2. ميتودولوژي 16

1.2. د ټولنې مباحثې 17

2.2. د مېز پر سر بياکتنه 17

3. ننګونې او محدوديتونه: 17

له حقيقت پرده پورته کول: حقايق او څرګندونې 18

1. ډيموګرافيک 18

2. د تاوتريخوالي قلمرو 20

1.2. په سيوري کې: د کورنۍ او ټولنو دننه تاوتريخوالی 20

2.2. ناامني 22

3.2. د ښځمنتوب لامله محکوم کيدل 22

4.2. ټوټه ټوټه شوي حقونه: د اساسي بشري حقونو سرغړونه 23

5.2. له حدودو ورتېر تبعيض 23

3. د عدالت لټول 26

4. رواني روغتيا 27

5. بشردوستانه مرسته: په ناورين کې شکايتونه 32

د پای څېرکی 34

د بدلون غوښتنه: سپارښتنې 35

1. نړیوال متحدين: د نړيوالې ټولنې نقش 36

2. د بدلون پياوړي کول: فيمينيستې تموېلوونکې ادارې 36

3. اتحاد لپاره د ايمان بسيج کول: مسلمان-اکثريت لرونکي هيوادونه 37

4. افغانستان ښځينه رهبرانې او فعالانې 37

ماخذونه 38

د مېرمنو د ساحوي شبکې په اړه

د مېرمنو ساحوي شبکه (WRN)، چې په ۲۰۱۰ کال کې تاسیس شوې ده، د څنګ ته شوو ښځو د غړونو پورته کولو ته ژمنه ده، چې ډېری وختونه د سویلي اسیا په منطقه کې، د سولې، نظامي کیدلو، اجباري بېځایه توب، امنیت، عدالت او حکومتولۍ اړوند موضوعاتو په ډیسکورس کې له پامه غورځول شوي دي. د دې پېچلو او سره نښتو ننګونو د ځوابولو لپاره د مېرمنو د ساحوي شبکې ژمنتیا تر ګټو هیوادونو غځېږي چې افغانستان، پاکستان او هندوستان په کې شامل دي، چې په دې سیمو کې ښځې ډېری وختونه د اقتصادي او ټولنیز-سیاسي شمولیت، په عدلي سیستم کې تبعیض، او د امنیت د مختلفو کچو اړوندو موانعو سره لاس او ګریوان دي چې د دوی ژوند یې اغېزمن کړی دی.

بشري امنیت ته په ټینګې ژمنتیا او د یوې جنسیت-محورې تګلارې په لرلو سره، د مېرمنو ساحوي شبکه تصدیقوي چې نادودیز بحرانونه او ګواښونه د ښځو لپاره «شخړه» رامنځ ته کوي. په دې کې هغه سناریوګانې شاملې دي چې د ښځو ژوند، امنیت او سوله په کې په خطر کې وي، په ځانګړې توګه د هغو ښځو چې بېځایه توب تجربه کوي، په وسلوالو شخړو کې بندې پاتې وي، یا د محروموونکو، وېشونکو، او بریدګرو سیاستونو ښکار وي.

د مېرمنو ساحوي شبکه به خپلې اوسنۍ بڼې ته د ۲۰۲۳ کال د ډسمبر په پای کې خاتمه ورکوي. خو، یو نوی نوښت چې د افغانستان لپاره د کاناډا فیمینیست فورم (CFFA) نومېږي، د افغانستان په اړه د مېرمنو د ساحوي شبکې کارونو ته ادامه ورکوي. د دې نوښت په اړه او د افغان مېرمنو لپاره د مېرمنو د ساحوي شبکې د اوټاوا سمپوزیوم پر بنسټ د دې نوښت د تاریخچې په اړه پوهیدلو لپاره دلته ولولئ:
Launch of CFFA | WRN (womensregionalnetwork.org)

د وومین‌کاینډ ورلډوایډ په اړه

وومین‌کاینډ ورلډوایډ د ښځو د حقونو یوه نړیواله اداره او تمویلوونکی دی، چې په ټوله نړۍ کې د جنسیتي نابرابرۍ د له منځه وړلو لپاره د ښځو د حقونو او فیمینیستو خوځښتونو سره کار کوي. موږ د ښځو د حقونو له متنوعو ادارو څخه ملاتړ کوو چې د تر ټولو څنګ ته شوو ډلو استازیتوب کوي چې په کور، ټولنو او کاري ځایونو کې نابرابري وننګوي. موږ دا خوځښتونه تمویلوو او پیاوړي کوو او د دوی سره اوږه په اوږه د بدلون لپاره اډووکیسي کوو.

د لیکوال په اړه

یلدا رویان د ښځو د حقونو مشره فعاله ده چې د پراختیا، جنسیت او بشر حقونو په برخو کې پراخه تجربه لري. نوموړې له کابل پوهنتون څخه د جنسیت او ښځو د مطالعاتو په څانګه کې د ماسټرۍ درجه ترلاسه کړې ده. د نوموړې تیزس په کابل کې د زیاتیدونکې فحاشۍ د عواملو په اړه د لومړۍ علمي څېړنې په توګه یو بې مخینې ګام و، چې په افغانستان کې یې پر مهمو مسایلو رڼا اچوله. د نوموړې د مسلکي سفر په دوران کې، آغلې رویان څېړنې او اډووکیسي ته ژمنه پاتې شوې ده، چې د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي او ښځو، سولې او امنیت په څېر حیاتي برخو باندې یې تمرکز کړی دی. نوموړې د ملګرو ملتونو په امنیت شورا او بېلابېلو نړیوالو اډووکیسي ادارو کې شاهدي ورکړې ده چې د افغان مېرمنو او نجونو حقونه خوندي کړي او په اړه یې پوهاوی وړاندې کړي. د آغلې رویان لیدلوري د op-ed له لارې چې د نیوزویک او سلیټ په څېر مشهورو خپرونو کې خپرې شوې دي، پراخو مخاطبینو ته رسیدلي دي.

د اېډېټرانو په اړه

چلسي سودرهولم

چلسي د څو کلونو لپاره د ارشدې عملیاتي مامورې په توګه دنده ترسره کړې ده چې د مېرمنو د ساحوي شبکې د ټولو پروګرامونو څارل یې پر غاړه و. نوموړې پخوا په دهلي، هندوستان کې د بشر حقونو لپاره د سویلي اسیا د فورم د پروژې کوارډیناټورې په توګه دنده ترسره کړې ده. نوموړې د افغانستان، پاکستان، هندوستان، نیپال او سریلانکا په شمول په سویلي اسیا کې ډېر وخت تېر کړی دی چې د ښځو، سولې او امنیت په اړه یې په لوړه کچه کنفرانسونه، د اډووکیسي نوښتونه او ساحوي څېړنې ترسره کړې دي، چې پر نظامي کیدلو، د ښځو د بشري حقونو د مدافعینو پر خوندیتوب، عدالت ته لاسرسي او په سولې راوستلو کې د ښځو پر نقش یې تمرکز درلود. چلسي په بروسلز کې د کینټ پوهنتون څخه په نړیوالو اړیکو کې د ماسټرۍ درجه لري او په کاناډا کې د دلهوزي پوهنتون څخه په اروپاپوهنه کې د لسانس سند لري. نوموړې د کړوالو تروما په برخه کې د هاورډ پروګرام سره سکالره وه.

ډاکټره جینیفر بینیټ

ډاکټره جینیفر بینیټ د پراختیایي سکتور یوه مجربه متخصصه ده، چې له مختلفو غیرانتفاعي ملي او نړیوالو ادارو سره د رهبرۍ په نقشونو کې د کار کولو ۲۳ کلنه تجربه لري. په کوچنۍ او په لویه کچه، د نومورې کارونه د ټولنیزې پراختیا پر سیاسي اقتصاد، سولې او امنیت، او جنسیتي برابرۍ او ټولنیز شمولیت باندې راڅرخي. د نومورې وروستۍ دنده د مېرمنو د ساحوي شبکې سره د هندوستان، پاکستان او افغانستان لپاره د منطقوي کوارډیناټورې په توګه وه. ډاکټره بینیټ چې په اصل کې څېړونکې ده، د انتقادي ارزونو، لیکلو او ایډیټ کولو مهارتونه لري او پراخ شمېر مقالې، څېړنیزې رسالې، د پالیسۍ رسالې او تحلیلي راپورونه یې لیکلي دي، چې په ملي او نړیواله کچه خپاره شوي دي. نومورې د بشر حقونو د فعالې په توګه خدمت ته ادامه ورکوي او فرصت لري چې له پیس بوټ انټرنیشنل سره کار وکړي چې د پوهنتونونو په شمول پر مختلفو کچو د بشر حقونو، سولې او امنیت په اړه لکچرونه ورکړي، او په پاکستان، هندوستان، بنګلدیش، نیپال او سریلانکا کې د سولې د ۵ منطقوي کنفرانسونو د تنظیموونکې ډلې اصلي غړې وه. د نومورې کارونه د سولې، زغم، عدالت، برابرۍ او مساوات او په ټوله کې د بشري هوساینې د ترلاسه کولو د یوې وسیلې په توګه، د عدالتي پالیسیو او پراختیا ترمنځ هستې پر اډووکیسي باندې تمرکز کوي.

لنډیزونه:

د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمیسیون	AIHRC
افغان ملي اردو	ANA
افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه	ANDSF
افغان ملي پولیس	ANP
د افغانستان د سولې او پخلاینې ملي چوکاټ	ANPDF
د ټولنې مباحثې	CC
د ملکي او سیاسي حقونو نړیوال کنوانسیون	CCPR
د ښځو په وړاندې د تبعیض له منځه وړلو کمېټه	CEDAW
د ماشوم د حقونو کنوانسیون	CRC
د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي له منځه وړل	EVAW
د کورنۍ د غبرګون قطعه	FRU
د جزاء نړیواله محکمه	ICC
د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو نړیوال کنوانسیون	ICESCR
همجنسګرایان	LGBTQI
ملي کاري پلان	NAP
نادولتي مؤسسه	NGO
د بشري چارو د همغږۍ دفتر	OCHA
پایښت لرونکي پراختیایي هدفونه	SDG
د بشر حقونو نړیواله اعلامیه	UDHR
ملګري ملتونه	UN
د ملګرو ملتونو ښوونیزه، علمي او کلتوري اداره	UNESCO
د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري	UNHCR
د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پرېکړه لیک	UNSCR
د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی	VAW
د روغتیا نړیوال سازمان	WHO
د بشر حقونو ښځینه مدافعین	WHRD
د مېرمنو ساحوي شبکه	WRN

اجرائيوي لنډيز

د ۲۰۲۱ کال د اګست د مياشتې پر ۱۵مه نېټه، پر افغانستان د طالبانو بياواکمنيدل د تحول يوه غمونکې نقطه وه، چې د تېرو دوو لسيزو په دوران کې د ښځو او نجونو د حقونو اړوند ترسره شوې پرمختګ يې معکوس کړ. دې پر شاتګ په سيستماتيکه توګه په عامه ژوند کې د ښځو او نجونو حضور او ګډون له منځه يوور.

که شاته وګورو، د ۲۰۰۴ کال افغان اساسي قانون د ښځو لپاره د مساوي حقونو حکم کاوه، چې پراخه ساحه يې رانغاړله، چې په کې د سياسي ګډون ساحې او په ملي شورا کې د ښځو د پام وړ نقش شامل و. د دې حکمونو په پام کې نيولو سره، چې نړيوالې پانګونې او د افغان مېرمنو غوښتې ژمنتيا يې ملاتړ کاوه، د پام وړ پرمختګ ترلاسه شوی و. د باورې ډېټا له مخې په لومړنيو ښوونځيو کې د نجونو په شموليت کې زياتوالی راغلی و چې په لومړنيو زده کړو کې نجونو د پام وړ اندازه استازيتوب درلود. په لوړو زده کړو کې د پام وړ تحول راغلی و،او د ځو کلونو په موده کې د سواد زده کړې کچه دوه برابره زياته شوې وه. پر دې سربېره، د ښځو په ګډون سره په ښځينه کاري ځواک کې لوړوالی رامنځ ته شو، چې د ښځو په مالکيت کې ګڼو شرکتونو د کاري فرصتونو په رامنځ ته کولو او په کليوالي سيمو کې د ښځينه صنعت‌کارانو په حمايه کولو کې مرسته کوله.

په سياسي پس‌منظر کې د ښځو په حضور کې زياتوالی راڅرګند شو، چې ښځو په کې په ملي شورا، ولايتي شوراګانو، او د وزارت په کچه بستونو کې څوکۍ اشغال کړې وې. د دې ترڅنګ، په افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو کې د ښځو زيات ګډون د هيواد د امنيت په ټينګښت کې د دوی مهم نقش څرګنداوه.

د ښځو په مشرۍ د مدني ټولنو ادارو د اساسي خدمتونو په وړاندې کولو کې حياتي نقش درلود، چې پراخ شمېر نادولتي مؤسسو پر روغتياپاملرنې، مسلکي روزنې، حقوقي ملاتړ، د ناوړه ګټې اخيستنې د قربانيانو لپاره سرپناه، او د ښځو لپاره د ښوونيزو اسانتياوو رامنځ ته کولو باندې تمرکز درلود. په هر حال، دوامدارو ننګونو د ښځينه حقونو د مدافعينو له خوا پراخو کمپاينونو ته اړتيا درلوده چې په دومره سختۍ سره ترلاسه شوې پرمختګ خوندي وساتل شي.

د دې ټولو پرمختګونو ټغر د طالبانو په بېرته واکمنيدلو سره ټول شو: پر ښځو او نجونو کلک محدوديتونه وضع شول، چې د دوی روغتيا، تعليم، خونديتوب، او ازادي يې اغېزمنه کړه. حقوقي خونديتوبونه يو په بل پسې له منځه يوړل شول، او ښځې په سيستماتيکه توګه د ښوونې او روزنې، دندو، او د سياسي ګډون له فرصتونو څخه بې‌برخې کړل شوې. هره هغه ښځه، چې د طالباني-ډول فرمانونو څخه يې سرغړونه کوله، په تعذيبي سزا محکوميدلې. د بشر حقونو دا ډول بې‌رحمانه سرغړونې د لاريونونو سبب شولې چې په پايله کې د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي، ځورونې او وېرونې شديدې پيښې رامنځ ته او وحشيانه کړنې ترسره شوې. دا چې له دې مظالمو څخه يې له تېښتې پرته بله لاره نه درلوده، ښځې اجباري انتقال کيدلو ته اړې شوې: د ښځينه حقونو پياوړو مدافعينو په بهر کې پناه واخيسته، په داسې حال کې چې په سلګونه زره ښځې د هيواد دننه بېځايه شولې يا يې په ګاونډيو هيوادونو کې پناه واخيسته.

د ښځو چارو لپاره د ملګرو ملتونو د دفتر په وينا، اوسمهال افغانستان په نړۍ کې يواځينی هيواد دی چې نجونې په کې لېسې ته له تګ څخه منع شوې دي.

د افغان مېرمنو او نجونو په وړاندې د تبعيض او تاوتريخوالي پر سيستماتيک ماهيت او شدت باندې ټينګار کولو سره، د بشر حقونو ادارو په يوه غږ سره د طالبانو له خوا وضع شوي ګامونه د جنسيتي اپارتايد او جنسيتي ځورونې رامنځ ته کوونکي عملونه ګڼلي دي. دا مفهومي چوکاټونه د ګڼاړخيزو ننګونو لپاره ارزښتناک نظرونه وړاندې کوي، چې جنسيتي ځورونه يې د جنسيت پر بنسټ له اساسي حقونو څخه قصدي او ارادي محروميت په ډاګه کوي، او جنسيتي اپارتايد يې د جنسيت پر بنسټ سيستماتيک جلاوالی رانغاړي.

د طالبانو کړنې د نړيوالو حقوقي اصولو او افغان داخلي قوانينو څخه د شديدې سرغړونې ښکارندويي کوي. د افغان مېرمنو د حقونو په وړاندې د ښکاره سرغړونو په ځوابولو کې د جنسيتي اپارتايد او جنسيتي ځورونې ترمنځ پېچلو اړيکو باندې ښه پوهيدل لازمي دي.

په رژیم کې د بدلون په راتګ او د ښځو پر ژوند باندې یې د اغېز په پام کې نیولو سره، د مېرمنو ساحوي شبکې دا څېړنه ترسره کړه چې په هراړخیزه توګه په افغانستان کې د ځنګ ته شوو ښځو تجربې، ننګونې او استقامت مستند او تحلیل کړي، چې تمرکز یې پر معلولیت لرونکو ښځو، نژادي او مذهبي لږه‌کیو او د بشر حقونو ښځینه مدافعینو باندې دی.

د ۲۰۲۳ کال له جون څخه تر جولای پورې، مونږ د بېلابېلو ولایتونو او متنوع بک‌ګرونډ لرونکو ښځو سره تر ۵۰۰ زیاتې د ټولنې مباحثې ترسره کړې چې له پراخې بیاکتنې سره ملې وې. دا څېړنه د افغانستان په ۱۱ ولایتونو: بلخ، بامیان، هرات، جوزجان، کابل، کندز، لغمان، ننګرهار، نیمروز، پکتیا او پنجشېر کې ترسره شوه. موږ د خپلو همکارو دفترونو لپاره سرچینې او شبکې په اختیار کې ورکړې وې چې د څېړنې د ساحو او ګډونوالو د ټاکلو اسانتیا رامنځ ته کړي. موږ د څېړنې د ساحو ټاکلو کې یوه باتدبیره تګلاره خپله کړې وه، چې موخه یې په ښاري او کلیوالي سیمو کې د بېلابېلو نژادي مخینو لرونکو کسانو استازیتوب کول و. د دې لپاره چې هم زموږ د څېړنې ټیم او هم ګډون کوونکي افراد خوندي اوسي، موږ په غور سره یوه دوه اړخیزه تګلاره خپله کړې وه چې د ډیټا راغونډولو لپاره هم حضوري (تقریباً ټول) او هم آنلاین (یوازې د پنجشېر لپاره) میتودولوژۍ وکاروو.

د عدلي سیستم سقوط عدالت ته د ښځو لاسرسی محدود کړ. اکثریت ۸۸.۴٪ ښځو د پولیسو یا محکمې خدمتونو ته لاسرسی نه درلود. ډېرې ښځې یې د طالبانو په محکمو کې له شکایت څخه وېریدلې او د کورنۍ د مشرانو، وکیل ګذر، او مذهبي مشرانو په شمول، غیررسمي چینلونو ته یې ترجیح ورکوله.

د یادونې وړ ده چې په دې څېړنه کې د سروې شوو افغان مېرمنو له جملې څخه یې ۸۶٪ د رواني روغتیایي ننګونو سره مخ دي، چې یوازې ۱۷٪ یې رواني روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی لري.

په افغانستان کې، چې په ټوله نړۍ کې د ښځو د مصؤنیت په درجه کې وروستی مقام لري، ښځو د تاوتریخوالي د بېلابېلو بڼو خبر ورکاوه، چې ۷۱٪ ښځو د خپلې کورنۍ یا د ټولنې د غړو له خوا تاوتریخوالی تجربه کړی و او ۷۷٪ یې د طالبانو او نورو نادولتي فعالانو له خوا تاوتریخوالی تجربه کړی و. له نیمایي څخه زیاتو ښځو (۵۶٪) د ځورونې یا خوندي احساس نه کولو خبر ورکاوه، ۹۱٪ یې د ښځینه توب له امله تبعیض تجربه کړی و؛ او په لوړې ۸۶٪ سره، دې ښځو باور درلود چې د دوی اساسي بشري حقونه نقض شوي دي. د یادولو وړ ده چې له ۷۶٪ څخه زیاتې ښځې د تاوتریخوالي سره مخ شوي وې چې سبب یې د دوی نژاد، ژبه، مذهبي عقاید، یا بدني معلولیت و.

په دې شدید بشري ناورین کې، یوازې ۲۶٪ ښځې بشردوستانه مرستو ته لاسرسی لري، په داسې حال کې چې د ښځو پر دندو باندې د طالبانو محدودیت د دوی اقتصادي ننګونې نورې هم پېچلې کړې دي.

دا څېړنه ملګرو ملتونو ته سپارښتنې کوي، د افغانستان د قانوني حکومت په توګه د طالبانو په رسمیت نه پېژندلو پر ارزښت باندې ټینګار کوي او د دوی له ملاتړ څخه لاس اخیستل هڅوي. د دې ترڅنګ، له ښځو سره د طالبانو چلند د جنسیتي ځورونې په توګه تصدیقولو او د جنسیتي اپارتاید د یوې بڼې په توګه د پېژندلو پر اړتیا ټینګار کوي. دا له ملګرو ملتونو څخه غوښتنه کوي چې د ښځو په وړاندې د طالبانو د جابرانه کړنو په اړه د جزاء د نړیوالې محکمې یوه پلټنه پیل کړي، د طالبانو پر

* وکیل ګذر هغه شخص دی چې معمولا د ټولنې لخوا د ټولنې د استازي په توګه غوره کیږي او په رسمي ډول په ښاروالۍ کې ثبت کیږي. وکیل ګذر په عمده توګه د سیمې د خلکو او دولت ترمنځ د ارتباطي کس په توګه دنده ترسره کوي.

کليدي رهبرانو د بنديزونو وضع کولو لپاره اډووکيسي کوي چې د بشر حقونو د سرغړونې مسؤليت لري، او د بشردوستانه مرستو پر برابر وېش باندې ټينګار کوي، چې ځانګړې تمرکز يې په بېلابېلو سيمو کې پر ښځو، او زيانمنونکو لړه‌کيو ټولنو لپاره پر ملاتړ باندې دی.

د سپارښتنو دويمه ټولګه نړيوالې ټولنې ته راجع ده. دا پر طالبانو د ډيپلوماتيک فشار راوړلو غوښتنه کوي چې د ښځو حقونو ته درناوی وکړي او تامين يې کړي، چې د زده کړو او کاري ځواک د برخو لپاره په کې د اندازه کولو وړ بنچمارکونه شامل وي. دا د فيمينيستو بهرنيو پاليسيو لرونکو هيوادونو څخه غوښتنه کوي چې په افغانستان کې د ښځو حقونو ته لومړيتوب ورکړي او د طالبانو د کړنو په پايله کې اغېزمنو شوو افغان مېرمنو ته سکالرشيپونه او پناه ورکړي. دا له نړيوالې ټولنې څخه غواړي چې ښځو او د بشر حقونو مدافعينو ته د هيواد دننه پليټفارمونه برابر کړي او هغو خلکو ته ميدان پرېنږدي چې طالبان نورمالول غواړي. د دې ترڅنګ، دا د مذاکراتو د يو داسې نړيوال فورم وړانديز کوي چې افغان مېرمنې، ډيپلوماتان، پاليسي جوړوونکي، او د بشر حقونو متخصصين په کې ښکېل وي چې په افغانستان کې د يو ټولشموله دولت د جوړيدلو ملاتړ وکړي او له جنسيت، فرقې، نژاد، يا ژبې په پام کې نيولو پرته اساسي حقونه خوندي کړي.

دا څېړنه فيمينيستو تمويلوونکو مؤسسو ته سپارښتنې وړاندې کوي، چې په افغانستان او په نړيواله کچه رسمي او د ښځو د حقونو د اډووکيسي اساسي ډلو ته د فنډونو پر اختصاص باندې ټينګار کوي. دا د افغان مېرمنو لپاره د ښوونيزو پروګرامونو د حمايه کولو سپارښتنه کوي، چې په کې د اقتصادي پياوړتيا، زده کړو، مسلکي روزنو، او سواد زده کړې لپاره فرصتونه شامل دي. دا د ښځو د مسلکي مهارتونو د لوړاوي، بياروزنې، تصديق، او له لرې څخه د دندو د فرصتونو، او همدا ډول ځاني-پاملرنې لپاره د نوښتونو د ترويجولو وړانديز کوي. د دې ترڅنګ، دا راپور د حقوقي ملاتړ د نوښتونو د تمويل، په افغان مېرمنو کې د رواني روغتيا د ستونزو په اړه څېړنو کې د پانګونې، او د لاسرسي وړ روغتياپاملرنې او ټولنيزرواني ملاتړ د خدمتونو لپاره د تمويل وړاندې کولو توصيه کوي.

په پای کې، دا راپور اسلامي هيوادونو ته خطاب کوي چې له ښځو سره د طالبانو چلند د اسلام د اصولو خلاف عمل په توګه وغندي او د ښځو د حقونو اړوند پرېکړو د بېرته اخيستلو لپاره پر طالبانو د فشار اچولو لپاره خپلې هلې ځلې همغږې کړي.

مخینه او وضعیت: تاریخ ته نظر کول

د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې پر ۱۵مه نېټه، پر افغانستان د طالبانو بیاواکمنیدل د تحول یوه غمووونکې نقطه وه، چې د تېرو دوو لسیزو په دوران کې د ښځو او نجونو د حقونو اړوند ترسره شوی پرمختګ یې په صفر کې ضرب کړ. دې پر شاتګ په سیستماتیکه توګه په عامه ژوند کې د ښځو او نجونو حضور او ګډون له منځه یووړ. د دې معکوسیت د حد د هراړخیزې ارزونې لپاره، اړینه ده چې یو څو مهمو احصائیو او ارقامو ته نظر وکړو چې د طالبانو له راګرځیدو وړاندې او وروسته وضعیت انځوروي.

۱. د محکومیت انګازې: د طالبانو واکمني (۱۹۹۶ – ۲۰۰۱)

په ۱۹۹۴ کې، طالبان د پام وړ ځواک په توګه راڅرګند شول، چې په ۱۹۹۶ کې یې کابل، په افغانستان کې له دوه لسیزو څخه زیاتې کورنۍ شخړې او سیاسي اړودوړ وروسته، ونیو.

له واک ته رسیدلو سره سم، طالبانو پر ښځو باندې سخت محدودیتونه وضع کړل چې په کې پر زده کړو، کار او عامه ژوند باندې محدودیتونه شامل ول. ښځې او نجونې ښوونځي ته له تګ، د ښوونیزو فرصتونو تعقیبولو، په کاري ځواک کې له ګډون، یا له محرم پرته د باندې تللو څخه منع شوې . د پوستکي ښکاره کول، او همدا ډول د نارینه ډاکټرانو له خوا روغتیایي درملنه کول منع وګرځیدل. پر دې سربېره، ښځې له سیاسي ښکېلتیا او عامه ویناوو څخه محرومې شوې.

د دې فرمانونو څخه سرغړونه ډېرى وختونه د مرګوني وهلو ټکولو، په عام محضر کې د درو وهلو، او په ځینې حالتونو کې، د مرګ سبب ګرځیده . د متحده ایالتونو د دفاع وزارت د ۲۰۰۱ کال راپور دا کړنې د «ښځو په وړاندې جګړې» د یوې برخې په توګه «د تاوتریخوالي د منفورو کړنو» په نوم یادوي چې په کې زنابالجبر، اختطاف، او اجباري ودونه شامل دي . له دې سختو محدودیتونو سره سره، یو څو ښځینه ډاکټرانو او نرسانو ته اجازه ورکړل شوې وه چې د افغانستان په ځینو ښارونو کې په جنسیتي-جلا شوو روغتون واټونو کې کار وکړي. د نجونو لپاره په کورونو کې پټو ښوونځیو د طالبانو د فرمانونو خلاف فعالیت کاوه. هغه کسان چې د دې خفیه ښوونځیو په پرمخوړلو کې ښکېل ول، ستر شخصي خطر یې پر ځان منلی و، او د شدیدې شکنجې یا حتی د مرګ له ګواښ سره مخ ول .

د ۲۰۰۱ کال په اکتوبر میاشت کې، د متحده ایالتونو په مشرۍ ائتلاف پر افغانستان یرغل وکړ چې د ترهګرۍ په وړاندې جګړه وکړي او په افغانستان کې «د ښځو حقونه او وقار» حمایه کړي. دې یرغل د طالبانو لومړۍ دوره پای ته ورسوله او په افغانستان کې یې د ښځو لپاره یو نوی ځپرکی پیل کړ .

۲. د واک ته رسیدو په لټه: سفر (۲۰۰۲-۲۰۲۱))

د ۲۰۰۱ کال په نومبر میاشت کې، په افغانستان کې د ډیموکراسۍ تاسیسولو د طالبانو لومړۍ پنځه کلنه دوره پای ته ورسوله، او د ښځو لپاره یې د امکاناتو یو نوی عصر رامنځ ته کړ چې خپل راتلونکی جوړ کړي. د ۲۰۰۴ کال افغان اساسي قانون، په یوه مهم ګام کې، د ښځو لپاره د مساوي حقونو حکم کاوه. د افغان مېرمنو نه ستړې کیدونکو هلوځلو، او د نړیوالې ټولنې پانګونې په راتلونکو دوو لسیزو کې د افغان مېرمنو په ژوند کې ژور بدلون راوست.

د ملګرو ملتونو د ډیټا له مخې، په لومړنیو ښوونځیو کې د نجونو په شمولیت کې د پام وړ زیاتوالی راغلی و چې په ۲۰۰۱ کې له صفر څخه په ۲۰۱۸ کې ۲،۵ ملیونو

1. https://www.amnesty.org.uk/womens-rights-afghanistan-history
2. https://feminist.org/our-work/afghan-women-and-girls/the-taliban-afghan-women/
3. https://2001-2009.state.gov/g/drl/rls/6185.htm
4. https://feminist.org/our-work/afghan-women-and-girls/the-taliban-afghan-women/
5. https://digitalcommons.pepperdine.edu/cgi/viewcontent.cgi?article=2100&context=etd

ته ورسید. د ۲۰۲۱ کال په اګست میاشت کې په لومړنیو زده کړو کې د نجونو ونډه له هرو ۱۰ زده کوونکو څخه ۴ ته رسیده. پر دې سربېره، افغانان په لوړو زده کړو کې د پام وړ تحول شاهدان ول، چې د یونیسکو د اسنادو له مخې، په ۲۰۰۱ کې له ۵۰۰۰ تنو څخه په ۲۰۲۱ کې، د ښځینه محصلینو شمېر ۱۰۰۰۰۰ تنو ته لوړ شوی و . په ورته موده کې، د سواد زده کړې کچه په ۲۰۰۱ کې له ۱۷٪ څخه د هر عمر ډلو د ترکیب لپاره، ۳۰٪ ته دوه برابره زیاته شوې وه. د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د ۲۰۱۹ راپور له مخې، ۸۰۵۵۴ تنو ښځو د ښوونکو په توګه دنده اجراء کوله او ۲۴۳۹ تنه یې د لوړو زده کړو مؤسسو کې استادانې وې .

په ۲۰۰۰ کال کې، د نړیوال بانک ډېټا ښودله چې ښځو د ټول کاري ځواک ۱۶.۵٪ تشکیلوله. په ټول کاري ځواک کې د ښځو سلنه په ۲۰۱۹ کال کې تر ټولو لوړې نقطې ۲۳.۱٪ ته وختله، خو په ۲۰۲۰ کې ۱۹.۷٪ ته راټیټه شوله. د دې ترڅنګ، په ګومارنه کې د ښځینه نفوس عمومي سلنه په ۲۰۱۹ کې ۲۱.۹٪ ته لوړه شوه، چې په ۲۰۲۰ کې یې ۱۶.۵٪ ته تنزیل وکړ . د یادونې وړ ده چې په ټول هیواد کې ۵۴۰۰۰ غیررسمي کاروبارونه د ښځو په مالکیت کې او د ښځو له خوا پر مخ وړل کیدل. دې کاروبارونو ۱۳۰۰۰۰ دندې پیدا کړې وې، چې د خپلو ځانونو لپاره یې ګومارنه وړاندې کوله او له ۱۰۰۰۰۰ څخه زیاتو ښځینه صنعتکارانو سره یې په کلیوالي سیمو کې مرسته کوله چې خپل تولیدات په ښاري سیمو کې وپلوري .

د ۲۰۲۱ په فبرورۍ کې، ښځو په ملي شورا کې ۲۷٪ څوکۍ اشغال کړې وې. د ولایتي شوراګانو د پام وړ ۲۱٪ ښځې وې، او د وزارت په کچه بستونو کې د ښځو ونډه ۶.۵٪ وه. له ۲۳۴ څخه زیاتو مېرمنو د قاضیانو په توګه دنده ترسره کوله، چې د ټولو ۲۱۶۲ قاضیانو ۱۲٪ یې تشکیلوله او په ټول هیواد کې له ۵۰۰ څخه زیاتې څارنوالانې وې.

له ۲۰۱۴ څخه تر ۲۰۲۰ پورې، په افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو کې د ښځو شمېر له دوه چنده څخه لوړ شو. په افغان ملي اردو کې د ښځینه وو شمېر په ۲۰۱۴ کې له ۵۲۸ تنو څخه په ۲۰۲۰ کې ۱۴۷۲ تنو ته لوړ شو. افغان ملي پولیسو خپل ښځینه ځواک په ۲۰۱۴ کې له ۱۸۸۸ تنو څخه په ۲۰۲۰ کې ۴۰۱۷ تنو ته لوړ کړی و .

په دې موده کې، د افغانستان د مدني ټولنو پس‌منظر مختلفې بڼې راخپلې کړې او د اساسي خدمتونو په وړاندې کولو کې یې مهم نقش درلود. په ۲۰۱۶ کې د افغان نادولتي مؤسسو د یوې هراړخیزې ارزونې له مخې، له ۲۰۰۰ څخه تر ۲۰۱۴ پورې ۸۹۱ نادولتي مؤسسې مستندې شوې وې. دې مؤسسو په لومړنۍ توګه د روغتیاپاملرنې، مسلکي روزنې، حقوقي او رواني روغتیایي ملاتړ، د کورنۍ ناوړه ګټې اخیستنې د قربانیانو لپاره د سرپناه، او زده کړو ته د ښځو د لاسرسي رامنځ ته کولو په څېر ساحو باندې تمرکز درلود .

د دوامدارو ننګونو او بشر حقونو د اوږدمهالو ستونزو په وړاندې چې افغان مېرمنې یې اغېزمنې کړې وې، د پام وړ پرمختګ او لاسته راوړنو د دې دوه لسیزو په دوران کې د دوی ژوند روښانه کړی و. په ۲۰۱۹ کې چې کله د متحده ایالتونو او د طالبانو ترمنځ د سولې مذاکرات پیل شول، د ښځو د حقونو افغان فعالانو پراخ کمپاینونه ترسره کړل چې د تېرو دوو لسیزو په دوران کې په سختۍ سره اخیستل شوي ګامونه په ډاګه کړي. دوی په کلکه له نړیوالې ټولنې غوښتنه کوله چې دا مهمې لاسته راوړنې او د افغان مېرمنو حقونه په اوبو لاهو نه کړي. په هر حال، دا هیلې د افغانستان له سقوط او د ۲۰۲۱ کال د اګست پر ۱۵مه، واک ته د طالبانو له رسیدلو سره سمې ورژیدلې.

*

6. https://www.unesco.org/en/articles/let-girls-and-women-afghanistan-learn

7. https://mohe.gov.af/dr/%DA%A9%D8%AA%D8%A7%D8%A8-%D8%AF%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%88%D8%B1%D8%AF-%E2%80%8C%D9%87%D8%A7%DB%8C-%D9%88%D8%B2%D8%A7%D8%B1%D8%AA-0

8. https://genderdata.worldbank.org/countries/afghanistan/

9. https://www.justsecurity.org/82788/afghan-women-entrepreneurs-battle-to-retain-economic-freedom/

10. https://www.sigar.mil/pdf/audits/SIGAR-22-12-AR.pdf

11. D Mitchell, NGO Presence and Activity in Afghanistan, 2000–2014: A Provincial-Level Dataset (2017)

سارا، د ښځو د حقونو ځوانه هزاره فعاله، کابل

سارا یوه هزاره نجلۍ ده چې په کابل کې اوسیږي او تل یې لېوالتیا لرله چې د ښځو د حقونو لپاره عدالت غوښتنه وکړي. نوموړې یوه تکړه وکیله، د ښځو د ګنو ټولنو غړې، او د خپلې ټولنې د ښځو لپاره یوه منځګړې وه. نوموړې په رسمي او غیررسمي سکتورونو کې د تاوتریخوالي د قربانیانو مېرمنو د ملاتړ او توانمندۍ لپاره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي، چې دوی ته یې حقوقي مرسته او سلامشورې وړاندې کولې او د بې عدالتیو په وړاندې یې د دوی لپاره غږ پورته کاوه.

د ۲۰۲۱ کال له اګست مخکې، سارا او د هغې د ډلې غړو په خپله ټولنه کې د ښځو د ملاتړ لپاره په خپلو هلوځلو کې د پام وړ پرمختګ کړی و. دوی حقیقي بدلون راوستلو، او سارا په خپله دنده کې د یو مقصد او بشپړتیا احساس کاوه. په هر حال، د کابل د سقوط او د طالبانو له واک ته رسیدلو سره هر څه بدل شول.

په یوه شپه کې، د سارا وضعیت په وېروونکو خوبونو بدل شو. هغه کار چې نوموړې ورته خپل ژوند وقف کړی و، ناڅاپه غیرقانوني وګڼل شو، او د هغې خپل خوندیتوب په شدید خطر کې ولوید. نوموړې وایي «د یوې هزاره نجلۍ په توګه، زه د نوي رژیم له خوا له سترو خطرونو او ګواښونو سره مخ وم. هغه پخوانۍ ځلانده‌ي او د ښځو فعالې ټولنې چې موږ یې برخه و، تیت او پرک کیدلو ته اړ شوې، چې زه او زما همکارې وکیلانې یې بې‌دندې کړې، او د عاید سرچینې یې وچې شوې».

«زه ډېره بېوسه او د نهیلۍ احساس کوم، ما تل هڅه کوله چې په خپله ټولنه کې د ښځو د حقونو لپاره مبارزه وکړم او ورسره مرسته وکړم، خو اوس زه له خپل ځان سره هم مرسته نه شم کولی. دا فکر ما هره ورځ وژني. زه د هزاره نجلۍ په توګه له امنیتي ګواښونو سره مخ یم او دا چاره زما وېره او اضطراب زیاتوي».

له بې‌شمېره ننګونو سره د مخ کیدلو سربېره، سارا خپلې هیلې له لاسه ورنکړې. نوموړې پوهیدله چې خپل کار یې په ازادانه ډول نه شو ترسره کولی، خو نوموړې ژمنه وه چې په هرې طریقې سره کیدلی شي د ښځو ملاتړ ته دوام ورکړي، که څه هم په پټه سره وي.

نوموړې نوښتګرې لارې ومونډلې چې خپل او د خپلې کورنۍ خوندیتوب تامین کړي. د خپلو موخو لپاره د سارا استقامت او نه ختمیدونکې ژمنتیا د هغې شاوخوا نورو نجونو ته الهام ښښونکې ده. له تیاره او نامعلومو وختونو سره سره، نوموړې ژمنه کوي چې «زه به په افغانستان کې د ښځو د حقونو د مبارزې د دوام لپاره لارې مومم، که څه هم دا چارې باید په سیوري کې ترسره کړل شي».

۳. د ژمنو ماتول: پر نړیوال سټیج د افغانستان ماتې کړې ژمنې

د ملګرو ملتونو د غړي هیواد په توګه، افغانستان ګڼ نړیوال تړونونه او کنوانسیونونه تصویب کړي دي. په دې کې د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، د ملکي او سیاسي حقونو نړیوال کنوانسیون، د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو نړیوال کنوانسیون، او د ماشوم د حقونو کنوانسیون شامل دي. دې نړیوالو هوکړه لیکونو پر افغانستان مکلفیت اچولی دی چې د جنسیتي برابرۍ، نه تبعیض، او د ښځو د حقونو د خوندیتوب اصول پلي کړي.

دا تړونونه له غړو دولتونو غوښتنه کوي چې د پېژندل شوو حقونو د پلي کولو لپاره اړین تدابیر او قوانین تصویب کړي. په دې کې د ښه کیفیت لرونکي ژوند، روغتیاپاملرنې ته د لاسرسي، او ښځو او سړیو لپاره زده کړو ته د وړیا تعلیم حقونه شامل دي. د دې ترڅنګ، دې تړونونو د دې نړیوالو هوکړو لاندې له ترسره شوو ژمنتیاوو سره سم د سرغړونو لپاره د سزاګانو حکم کړی دی.

تر ټولو مهم چې د یادونې وړ دی هغه د ښځو په وړاندې د تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کنوانسیون دی، چې افغانستان په ۲۰۰۳ کال کې تصویب کړی دی. د دې کنوانسیون موخه ښځو ته له سړیو سره معادل حقوقي خوندیتوب وړاندې کول دي. دولتي لوري مکلف دي چې د قوانینو دتصویب په شمول ټول لازم ګامونه واخلي چې د ښځو پرمختګ او بشپړه پرمختیا تامین کړي. دا د هغو ګامونو د پلي

کولو غوښتنه کوي چې د ښځو حقونه لوړوي او روغتیاپاملرنې، ګومارنې، او زده کړو ته د لاسرسي په شمول، دولتي منافعو ته د مساوي استحقاق ډاډ ورکوي.

د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون، چې د ۱۹۶۴ پر اساسي قانون بنا دی، په افغانستان کې حاکم حقوقي او قضایي چوکاټ و. په دې کې په څرګند ډول حکم شوی چې سړي او ښځې د قانون په وړاندې مساوي حقونه او وجایب لري. همدا ډول په دې اساسي قانون کې د بیان ازادۍ، د ټولنو د جوړولو، د ښځو لپاره د متوازنو زده کړو، او د سوله ییزو لاریونونو حقونه ورکړل شوي ول.

په ۲۰۰۹ کې، افغان حکومت د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو قانون تصویب کړ، چې د اجباري واده او بدني ناوړه ګټې اخیستنې په شمول، د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي مختلفې بڼې یې جرم وګڼلې . د دې قانون د نافذولو لپاره، د پولیسو ځانګړې قطعې چې د کورنۍ د غبرګون قطعې بلل کیدلې، څارنوالۍ، او ځانګړې محکمې چې ښځینه قاضیانې یې لرلې، ایجاد شوې.

د ملګرو ملتونو د غړي دولت په توګه، افغانستان د ښځو، سولې او امنیت په اړه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پرېکړه لیک ۱۳۲۵، چې د ۲۰۰۰ کال په اکتوبر میاشت کې تصویب شوی و، توشیح کړ. په ۲۰۱۵ کې، افغانستان خپل لومړنی ملي کاري پلان د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۱۳۲۵ پرېکړه لیک په اړه پیل کړی و، چې د شخړې پر مهال د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي څخه د ښځو او نجونو د خوندیتوب لپاره خپله ژمنتیا تازه کړي .

د ۲۰۱۵ په سپټمبر کې، افغانستان د پایښت لرونکو پراختیایي هدفونو تصویبولو ته ژمنتیا وښوده او د دې نړیوالو هدفونو د ملي کولو لپاره یې عملي ګامونه واخیستل. دا هدفونه د افغانستان د پایښت لرونکو پراختیایي هدفونو په ټولګه کې مدغم شول، او وروسته بیا په ملي پراختیایي پلانونو کې ځای پر ځای شول، چې په کې د افغانستان د سولې او پراختیا ملي چوکاټ هم شامل دی .

د بشر حقونو د تړونونو تصویب د افغانستان دولت مکلفوي چې د ملګرو ملتونو منشور، نړیوال تړونونه، کنوانسیونونه، او د بشر حقونو نړیواله اعلامیه رعایت کړي. دا ژمنتیا په کورنیو قوانینو او د دوی په عملي انفاذ کې د دې اصولو د ادغام غوښتنه کوي . په هر حال، طالبانو دا ژمنتیاوې نه دې پوره کړې او د ښځو په وړاندې د خپلو ترسره کړو جابرانه کړنو له لارې یې له دې تړونونو څخه پراخې سرغړونې کړې دي. په دې کې د هغو فرمانونو، حکمونو، او مکتوبونو توجیه کول شامل دي چې په چټکۍ سره په ټول هیواد کې د ښځو حقونه پایمالوي، او په دې توګه نړیوالو او د ملي بشري حقونو مکلفیتونو ته پخوانۍ ژمنتیا نںکوي.

۴. تیارو ته ورګرځیدل: د طالبانو د بیاواکمنیدو پایلې (۲۰۲۱ څخه تر اوسه)

په ۲۰۲۱ کې واک ته د طالبانو له راګرځیدلو سره، افغانستان د اساسي ازادیو او حقونو د چټک او ویجاړوونکي زیان شاهد و، چې ښځو او نجونو د دې ظالمانه ګامونو بوج په اوږو بار کړی دی. روغتیا، زده کړو، خوندیتوب، بدني تمامیت، د تګ راتګ ازادۍ، او د ټولنو حقونه یې په ظالمانه ډول سره وتروړل شول. د طالبانو کړنو په سیستماتیکه توګه د حقوقي خوندیتوب مهم میکانیزمونه له منځه یوړل، چې په کې د ښځو چارو وزارت، او د افغانستان د بشر حقونو د خپلواک کمیسیون منحلول، او د قانون نافذوونکو قطعو سقوط شامل و، چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د ځوابولو دنده یې لرله.

له ۱۰۰ څخه د زیاتو فرمانونو په صادرولو سره، ښځې په سیستماتیکه توګه زده کړو ته له لاسرسي، په ګومارنه کې له ښکېلتیا او په سیاسي نقشونو کې له ګډون څخه منع شوې. د دې محدودیتونو اغېز بې‌شمېره افغان مېرمنو او نجونو په شدیده توګه حس کړ چې د دې محدودیتونو په وړاندې یې لاریونونه وکړل، او له دوامدارې وېرونې، ځورونې، خپلسري توقیف، او د اجباري ورکیدنې سره مخ شولې. هغه کسان چې په څنګ ته شوو ډلو پورې یې تړاو درلود، لکه نژادي لږه‌کي یا (LGBTQI) افراد، تر دې هم له سختو ګواښونو سره مخ شول . د مدني ټولنې، حکومت، رسنیو، یا امنیت په شمول د بېلابېلو سکتورونو غړي په سیستماتیکه توګه تر هدف لاندې

*

12. https://www2.ohchr.org/english/bodies/cedaw/docs/CEDAW.C.AFG.1-2.pdf
13. https://www.cw4wafghan.ca/sites/default/files/attachments/pages/cw4wafghan-afghansevawlaw_0.pdf
14. https://reliefweb.int/report/afghanistan/afghanistan-s-national-action-plan-unscr-1325-women-peace-and-security-2015-2022
15. https://sustainabledevelopment.un.org/content/documents/280392021_VNR_Report_Afghanistan.pdf
16. https://moj.gov.af/en/huquq-and-human-rights
17. https://www.ohchr.org/en/news/2023/09/high-commissioner-tells-human-rights-council-human-rights-afghanistan-are-state
18. https://msmagazine.com/2023/08/15/list-timeline-taliban-orders-women-girls-afghanist/

...اوسمهال افغانستان په نړۍ کې یوازینی هېواد دی چې نجونې پکې ښوونځي ته له تګ څخه منع دي.،...

ونیول شول. دوی له دې امله سخت تاوتریخوالی، خپلسری توقیف، د توقیف ناانساني شرایط، په زور اعتراف، او ښکاره بې‌عزتۍ وزغملې .

د طالبانو له واکمنیدلو وروسته، د ښځو د حقونو برجسته مدافعین له افغانستان څخه تېښتې ته اړ شول، چې په بېلابېلو هیوادونو کې یې پناه واخیسته . په ورته مهال، په سلګونو زره خلک، د ښځو او ماشومانو په شمول، په ۲۰۲۱ کې د هیواد دننه بېځایه شول، چې له مخکې موجود بشري ناورین یې نور هم پېچلی کړ. د ملګرو ملتونو د بشري چارو د همغږۍ اداري ډېټا څرګنده کړه چې نږدې ۷۰۰۰۰۰ خلک، چې ۲۱٪ یې ښځې او ۵۹٪ یې ماشومان ول، په ۲۰۲۱ کې د هیواد دننه بېځایه توب ته اړ شوي دي . دې چارې د ۲۰۲۱ په ډسمبر میاشت کې د داخلي بېځایه شوو خلکو مجموعي شمېر هېښوونکي ۳،۴ ملیونه ته ورساوه.

پر دې سربېره، د ۲۰۲۲ د جولای تر ۱ نېټې پورې، له دوه ملیونو څخه زیاتو ثبت شوو افغان کډوالو او پناه غوښتونکو په ګاونډیو هیوادونو لکه ایران، پاکستان، هندوستان، تاجکستان، ترکمنستان، او ازبکستان کې د خوندیتوب غوښتنه کړې ده. ډېری نور یې ناثبت شوي دي، چې یاد ناورین یې نور هم شدید کړی دی. په حیرانوونکې توګه، د ۱،۲۷ ملیونه شاوخوا افراد، چې ۲۳٪ یې ښځې او ۵۱٪ یې ماشومان دي، په اټکلي توګه دې ګاونډیو هیوادونو ته د ۲۰۲۱ د اګست راهیسې رارسیدلي دي . د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ په وینا، خپلې خاورې ته د افغان کډوالو راستنیدل په ۲۰۲۲ کې ډېر محدود ول، چې یوازې ۳۵۸۰ تنه راستانه شوي، په داسې حال کې چې ۱۶۲۴۱۳ تنه داخلي بېځایه شوي خپلو کورونو ته ستانه شوي دي. د یادونې وړ ده، چې په یاده ډېټا کې ښودل شوې چې له محرم پرته ډېرو کمو ښځو افغانستان پرېښی دی؛ له ۱۰۰۰ څخه کمو ښځو په ۲۰۲۲ کې یوازې په ایران یا پاکستان کې د پناه غوښتنه کړې ده، چې په پرتله یې ۱۰۴۶۴ نارینه وو یاده غوښتنه کړې ده.

ښځې او نجونې د بېځایه توب پر مهال له لوړو خطرونو سره مخ وې، چې په کې د تاوتریخوالي، استثمار او تبعیض زغمل، او د خوندیتوب او ملاتړ نشتوالی شامل وو.

*

19. https://www.ohchr.org/en/documents/country-reports/ahrc5284-situation-human-rights-afghanistan-report-special-rapporteur

20. https://acleddata.com/2023/08/11/two-years-of-repression-mapping-taliban-violence-targeting-civilians-in-afghanistan/

21. https://voiceamplified.org/afghan-women-human-rights-defenders-fight-for-recognition/

22. https://www.google.com/url?sa=t&rct=j&q=&esrc=s&source=web&cd=&ved=2ahUKEwjrn_G2-vWBAxWEK1kFHdvQDcsQFnoECBQQAQ&url=https%3A%2F%2Fdata2.unhcr.org%2Fen%2Fdocuments%2Fdownload%2F90521&usg=AOvVaw2AT_Ei8bs2aR-Nnsi-FRQZ&opi=89978449

23. https://data.unhcr.org/en/situations/afghanistan

د طالبانو د ځینو مهمو فرمانونو او حکمونو جدول چې پر ښځو يې مستقیم اغېز لرلی دی

2021

جولای ۲۰۲۱

کله چې طالبانو په مسلسل ډول ولایتونه او ولسوالۍ نیول پیل کړل، چې د افغانستان سرحدي سيمې هم په کې شاملې وې، نو دوی د طالبانو د فرهنګي کمېسیون تر نامه لاندې يو مکتوب صادر کړ چې له ځايي دينی علماوو څخه يې غوښتي و چې دوی ته له ۱۵ کلونو څخه پورته پېغلو او ۴۵ کلونو څخه کم عمره کونډو لست وړاندې کړي، چې دوی يې طالب جنګیالیو ته واده کړي (ری، ۲۰۲۱).

اګست ۲۰۲۱

د طالبانو مشر د ټولو افغانانو لپاره عمومي عفوه اعلان کړه چې په کې د پخواني دولت مامورين او جمهوريت-پلوي افراد شامل ول. دا عفوه پلې نه شوه. په همدې خبرتیا کې طالبانو له ښځو وغوښتل چې له حکومت سره یوځای شي.

دا خبرتیا د طالبانو د ارشد غړي، انعام الله سمنګاني له خوا خپره شوه (مظفر، ۲۰۲۱).

په هرات ولایت کې طالب چارواکو په دولتي او خصوصي ښوونيزو مؤسسو کې پر ګډو زده کړو بندیز ولګاوه (پي تي آی، ۲۰۱۲).

سپتمبر ۲۰۲۱

طالبانو یوازې د هلکانو منځني ښوونځي او لېسې پرانیستې، خو د نجونو لپاره نه. همدا ډول دوی د ښوونیز نصاب بیاکتنه هم پیل کړه فاضل او نور، ۲۰۲۱).

طالبانو د ښځو چارو وزارت د امر بالمعروف او نهی عن المنکر پر وزارت بدل کړ چې د اخلاقیاتو د پولیسو په توګه کار کوي. دې وزارت د طالبانو تر رژیم لاندې د یوې مهمې ادارې مقام ترلاسه کړ (بي بي سي، ۲۰۲۱).

حکومت ته د ښځو تر رابللو لږ وروسته، د سپتمبر پر ۲۰مه طالبانو په کابل ښار کې ټولو ښځینه کارکوونکو ته لارښوونه وکړه چې تر امرثاني پورې په کورونو کې پاتې شي (د ابزرور، افغانستان، ۲۰۲۱).

په کابل پوهنتون کې له تدریس او زده کړو څخه هم ښځې منع شوې (کانستیبل، ۲۰۲۱).

نومبر ۲۰۲۱

د طالبانو د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د اتو فرمانونو د یوې برخې په توګه، ښځې په تلویزوني پروګرامونو یا فلمونو کې له راڅرګندیدلو څخه منع شوې (پوپلزی، ۲۰۲۱).

2022

مارچ ۲۰۲۲

طالبانو اعلان وکړ چې د نجونو ښوونځي به پرانیستل شي، خو یو څو ساعته وروسته يې بېرته د ښوونځیو د تړلو امر وکړ، چې د نجونو لپاره پر منځنیو زده کړو بندیز ته يې ادامه ورکړه (بار، ۲۰۲۲).

طالبانو یو امر صادر کړ چې ښځې روغتيايي مرکزونو ته د محرم له ملتیا پرته ننوتلو څخه منع کوي (نادر او امیني، ۲۰۲۲).

می ۲۰۲۲

طالبانو د «غیرضروري» ادارو په ګډلو سره، د افغانستان د بشر حقونو کمېسیون او د پخواني حکومت څلور نورې مهمې ادارې منحل کړې (یونس، ۲۰۲۲).

جولای ۲۰۲۲

طالب چارواکو د مالیې وزارت ښځینه کارکوونکو ته خبر ورکړ چې د خپلو ځانونو د بدیل په توګه، خپل نارینه خپلوان، د مهارتونو یا وړتیاوو په نظر کې نیولو پرته، دندو ته راولېږي (کومار، ۲۰۲۲).

سپتمبر ۲۰۲۲

طالبانو هغه بواځینۍ ښځه هم له خپلې دندې منفک کړه چې د رسنیو د سرغړونو په کمېسیون کې يې دنده لرله (اقبال، ۲۰۲۲).

2022

نومبر ۲۰۲۲

طالبانو په شمالي ولایتونو بلخ او هرات کې د ښځو عامه حمامونه وتړل. دا اعلان د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د سردار محمد حیدري له خوا ترسره شو. (ګلینسکي، ۲۰۲۲).

طالبانو په بامیان ولایت کې د بندامیر ملي پارک له لیدنې ښځې منع کړې. دا اعلان د امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د وزیر محمد خالد حنفي له خوا ترسره شو (راډفورډ، ۲۰۲۳).

ډسمبر ۲۰۲۲

طالبانو د لوړو زده کړو د مؤسسو او دیني ښوونیزو مرکزونو، او تر ځنګ یې له هغو ښوونیزو کورسونو ځخه ښځې منع کړې چې په خصوصي ودانیو کې ورته تدریس کېدلو. دا اعلان د لوړو زده کړو وزارت ویاند ضیاءالله هاشمي له خوا شریک شو (حدید، ۲۰۲۲).

طالبانو یو فرمان صادر کړ چې په داخلي او نړیوالو نادولتي مؤسسو کې ښځې له کار کولو ځخه منع کوي. د اقتصاد وزات داخلي او نړیوالو نادولتي مؤسسو ته یو مکتوب واستوه چې د نه مطابقت په صورت کې یې ورته د جواز د لغوه کولو ګواښ کړی و (فرزان او نور، ۲۰۲۲).

د طالبانو مشر هیبت الله اخندزاده په افغانستان کې قاضیانو ته امر وکړ چې د مشخصو جرایمو لپاره شرعي سزاګانې وضع کړي چې په کې په عام محضر کې په درو وهل، رجم او اعدام شامل دي (بي بي سي، ۲۰۲۲).

2023

جنوري ۲۰۲۳

طالبانو په کندهار کې د روغتیاپاملرنې مسلکي کارکوونکو ته امر وکړ چې له محرم پرته کار ته ولاړې نه شي. دا امر په شفاهي توګه په کندهار کې د عامې روغتیا ریاست ته شوی و (خالد، ۲۰۲۳).

طالبانو سیاحتي شرکتونو ته امر وکړ چې پر هغو ښځو ټکټونه ونه پلوري چې محرم ورسره نه وي (حکیم، ۲۰۲۳).

اپریل ۲۰۲۳

طالبانو ښځې د ملګرو ملتونو له دفترونو سره له کار کولو ځخه منع کړې. په ننګرهار ولایت کې د ملګرو ملتونو د دفترونو ښځینه کارکوونکې دفتر ته له تللو ځخه منع شوې وې (وینتور، ۲۰۲۳).

مې ۲۰۲۳

د یو غږیز پیغام له لارې، د طالبانو مشر او د کندهار د امربالمعروف او نهی عن المنکر رئیس، مولوي عبدالحی عمر ټولو ریاستونو ته امر وکړ چې ښځې او نجونې روغتیايي مرکزونو او هدیرو ته له تګ ځخه منع کړي (حکیم، ۲۰۲۳).

جولای ۲۰۲۳

د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت یوه خبرپاڼه خپره کړه چې د یوې میاشتې دننه یې په هیواد کې د ښځو لپاره د ټولو سینګارتونونو د تړلو امر ورکړی و (رویترز، ۲۰۲۳).

په داسې حال کې چې ځینو ښځو هڅه کوله چې خپل ژوند په کوربه هیوادونو کې جوړ کړي، نورې یې په ترانزیت کې ایسارې پاتې دي .

په ورته وخت کې، د ښځو د حقونو بې‌شمېره په خطر کې مدافعین په افغانستان کې پاتې شول، چې د طالبانو له خوا د تاوتریخوالي، جنسي ناوړه ګټې اخیستنې، استثمار او حتی د مرګ له شدید ګواښ سره مخ دي . دې خطرونو له بېځایه توب وړاندې د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالی له مخکې موجود حالت نور هم پېچلی کړی دی. د خوندیتوب او حفاظت دریڅه لا هم تیاره ښکاري، په ځانګړې توګه د هغو کسانو لپاره چې پاسپورت یا د تېښتې اسباب نه لري.

د ملګرو ملتونو ښکاره تائید چې افغانستان اوس په نړۍ کې یواځینی هیواد دی چې نجونې په کې لېسې ته له تګ څخه منع شوې دي، په هیواد کې د جنسیتي ځورونې د حد یو تیاره انځور وړاندې کوي. اضافي محدودیتونه ښځې، پرته له یو ځو نریو تعریف شوو سکتورونو او نقشونو څخه، له کور څخه بهر له کاره منع کوي. په کابینه کې د ښځو بشپړ نشتون او د ښځو چارو د وزارت منحلولو په اغېزناکه توګه د ښځو سیاسي ګډون له منځه یووړ. له ۷۸ کیلومترو څخه د زیات سفر لپاره د محرم د لزوم حکم د ښځو د تګ راتګ ازادي کلکه محدوده کړله. پر دې سربېره، ښځې اړ دي چې په عامه ځایونو کې پرده او نقاب وکړي چې دوی یې تجرید او زیانمنونکې کړې دي .

په ورته وخت کې، طالبانو داسې فرمانونو صادر کړي دي چې په ځایي او نړیوالو نادولتي مؤسسو کې د ښځو کار کول منع کویاو که چېرته یادې مؤسسې له دې فرمان څخه سرغړونه وکړي، نو د جواز د لغوه کیدلو له ګواښ سره مخ کېږي .

سمي سمي باهوس، د ښځو چارو لپاره د ملګرو ملتونو د دفتر اجرائیوي رئیسې، په افغانستان کې د پرېکړې کولو په ټولو کچو کې د ښځو د اغېز د ډراماتیک کموالي په اړه خبرداری ورکړی دی. نوموړې په محدودیتونو کې د پام وړ زیاتوالی په ډاګه کړی دی، چې ډېری وختونه د کورنۍ د نارینه غړو له خوا پلي کېږي، چې پایله یې د ماشومانو د ودونو او پر ماشومانو کار کولو کې زیاتوالی راتلل دي. دا سخت شرایط د دې سبب ګرځیدلي دي چې په هېښوونکي توګه ۹۰٪ ځوانې مېرمنې د ضعیفې رواني روغتیا د لرلو خبر ورکوي، چې د ځانوژنې او د ځانوژنې له فکرونو سره ملې دي، چې خپه کوونکې اندېښنې یې راپورته کړې دي. افغان مېرمنې اوس پر نړیواله ټولنه بېړنی غږ کوي چې د بدلون لپاره فشار وارد کړي، د تحریماتو، نورو هیوادونو ته د سفر کولو د بندیزونو وضع کولو، او نورو داسې ګامونو لپاره اډووکیسي وکړي چې په افغانستان کې د طالبانو د حاکم حکومت په رسمیت پېژندل ځنډوي .

متخصصینو او د بشر حقونو ادارو په یوه غږ سره د طالبانو ظالمانه اقدامات د «جنسیتي اپارتاید » او «جنسیتي ځورونې » په نامه یاد کړي دي. دا نومونې د ۲۰۲۱ کال د اګست میاشت کې د طالبانو له واک ته راګرځیدلو راهیسې، په افغانستان کې، پر ښځو او نجونو باندې د لګول شوو محدودیتونو شدت او سیستماتیک ماهیت په ډاګه کوي. دا ډول څرګندونې ټینګار کوي چې یادې کړنې مجردې کړنې نه، بلکې د تبعیض، تاوتریخوالي، او محکومیت د قصدي او پلان شوو کړنو یوه لړۍ ده چې په ځانګړې توګه یې افغان مېرمنې او نجونې تر هدف لاندې نیولې دي.

د «جنسیتي اپارتاید» او «جنسیتي ځورونې» مفاهیم هغه برجسته لینزونه دي چې له لارې یې په افغانستان کې سیستماتیک خپلمنځي تړاوونه تحلیل کیدلی شي. دا مفاهیم د جنسیت پر بنسټ هغه ژورې رېښې لرونکی تبعیض او تاوتریخوالی رانغاړي چې په افغانستان کې ورسره ښځې له کلونو راهیسې مخ دي. د محکومیت د دې دوه بنو ترمنځ پېچلو اړیکو باندې پوهیدل د دې لپاره لازمي دي چې په هیواد کې د هغو ګڼ اړخیزو ننګونو په اړه پوه شو چې ښځې ورسره لاس او ګرېوان دي.

۱،۴. د جنسیتي ځورونې خطرونه

د بشري حقونو څخه د ښځو شدید محرومیت، د حبس، تعذیب، او اجباري ورکیدنې له کړنو سره یوځای؛ پر افغان ښځو او نجونو باندې د طالبانو محدودیتونه ښايي د بشریت ضد جرایمو د ځورونې کچې ته ورسېږي . دا کړنې په ځانګړې توګه ښځې او نجونې د دوی د جنسیت پر بنسټ په نښه کوي او د ښځو او نجونو په وړاندې دا سرغړونې جنسیتي ځورونه ګڼل کیدلی شي، چې د بشریت ضد جرم ګڼل شوی دی .

جنسیتي ځورونه د نړیوالو قوانینو خلاف د اساسي حقونو څخه هغه ارادي او شدید محرومیت ته ویل کېږي چې په ځانګړې توګه د جنسیت پر بنسټ ځینې افراد په نښه کوي، چې په نړیواله کچه تر نړیوالو قوانینو لاندې غیرمجاز ګڼل شوی دی. دا ځورونه د په نښه شوې جنسیتي ډلې له هویت څخه راپورته کېږي او له هغو کړنو یا جرایمو سره تړلې ده چې د جزاء د نړیوالې محکمې په قضایي صلاحیت کې راځي

*

24. https://www.refugeesinternational.org/reports-briefs/they-left-us-without-any-support-afghans-in-pakistan-waiting-for-solutions/

25. https://www.hrw.org/news/2022/10/20/afghanistan-women-protesters-detail-taliban-abuse

26. https://www.unwomen.org/en/news-stories/speech/2022/07/press-briefing-the-situation-of-women-and-girls-in-afghanistan

27. https://www.crisisgroup.org/asia/south-asia/afghanistan/329-taliban-restrictions-womens-rights-deepen-afghanistans-crisis

۲،۴. جنسیتي اپارتاید

د ۲۰۲۱ د اګست ۱۵مې راهیسې، طالبانو له ۱۰۰ څخه زیات فرمانونه صادر کړي دي چې په افغانستان کې د ښځو په وړاندې شدید تبعیض کوي او د ښځو ژوند کنټرولوي. یوه څېړنه چې د اپارتاید کنوانسیون د دویمې مادې په وړاندې دا فرمانونه ارزوي، چې هغه «ناانساني کړنې» تشریح کوي چې اپارتاید په ګوته کوي چې کله چې پر یوه ډله د بلې ډلې حاکمیت ساتلو لپاره په سیستماتیکه توګه ترسره شي، ښيي چې په دې حالت کې، د ښځو په وړاندې د طالبانو کړنې د جلاوالي له نهادینه شوي سیستم او د نارینه وو له حاکمیت سره سمون خوري، لکه څنګه چې د اپارتاید کنوانسیون کې تشریح شوي دي .

جنسیتي اپارتاید د حکومتولۍ یو سیستم دی چې د قوانینو او/یا پالیسیو پر بنسټ د سړیو او ښځو ترمنځ سیستماتیک جلاوالی نافذوي، چې ډېری وختونه یې پایله له عامه ځایونو او ساحو څخه د ښځینه وو محروموول وي. دا سیستم د ښځو په کمګڼلو سره د نړیوالو قوانینو پر اساسي اصولو پښې ږدي، او دوی ته له مساوي حقونو ورکولو څخه انکار کوي چې د نړیوالو قوانینو لاندې پېژندل شوو بشري حقونو څخه استفاده وکړي. لکه څنګه چې نژاداي اپارتاید د نژادي تبعیض د منعې اصولو څخه سرغړونه ده، همدا ډول جنسیتي اپارتاید د نړیوالو قوانینو له اساسي اصولو څخه سرغړونه ده، چې په کې د افغانستان د بشر حقونو ټول مکلفیتونه او پخپله د ملګرو ملتونو منشور شامل دي .

د طالبانو تر واک لاندې افغانستان کې، د «جنسیتي اپارتاید» اصطلاح ټینګار کوي چې تبعیض یوازې یو تصادف نه بلکې د دوی د حکومتولۍ د سیستم برخه ده. په دې مانا چې تبعیض یوازې عارضي موضوع نه ده، بلکې د دوی د عمومي پالیسۍ لومړنۍ موخه ده. په پایله کې یې دولت یا حکومتي نهاد د دې ډول تبعیض اصلي محرک ګرځي.

جنسیتي اپارتاید او جنسیتي ځورونه باید د دوه جلا او تکمیلي مفاهیمو په توګه درک کړل شي چې د طالبانو له خوا د ښځو د بشري حقونو څخه د غیرمتمدنې او سیستماتیکې سرغړونې په وړاندې د اغېزناکې مبارزې لپاره اړین دي. جنسیتي اپارتاید هغه چوکاټ دی چې په کې په افغانستان کې جنسیتي ځورونه ترسره کېږي.

*

28. https://www.unwomen.org/en/news-stories/statement/2023/08/statement-on-afghanistan-by-un-women-executive-director-sima-bahous

29. https://www.ohchr.org/en/stories/2023/07/experts-taliban-treatment-women-may-be-gender-apartheid

30. https://www.hrw.org/news/2023/09/08/afghanistan-talibans-gender-crimes-against-humanity

31. https://www.ohchr.org/en/documents/country-reports/ahrc5284-situation-human-rights-afghanistan-report-special-rapporteur

32. https://www.amnesty.org/en/documents/asa11/6789/2023/en/

33. UN General Assembly. (1998). Rome Statute of the International Criminal Court (Article 7(1)).

34. https://msmagazine.com/2023/08/15/list-timeline-taliban-orders-women-girls-afghanist/

35. https://www.ohchr.org/en/statements/2023/05/afghanistan-systematic-crackdown-womens-and-girls-rights-un-experts-say

36. Karima Bennoune. (2023). The international obligation to counter gender apartheid in Afghanistan (Issue 54.1, pp.24).

د څېړنې چوکاټ

۱. موخې او د څېړنې ساحه

د مېرمنو د ساحوي شبکې له خوا ترسره شوې، دې څېړنې لومړنۍ موخه، په افغانستان کې د تر ټولو ځنګ ته شوو ښځو د تجربو، ننګونو او استقامت هر اړخیزه مستندول او تحلیلول دي. زموږ تمرکز په روښانه توګه د طالبانو له واک ته راستنیدلو وروسته دوو کلونو کې د طالبانو د حاکمیت پر اغېز باندې راڅرخي. نهایي هدف دا دی چې د اډووکیسي د هڅو هلوځلو، د پالیسۍ سپارښتنو، او د پروګرام پرمختیاوو لپاره معلومات وړاندې کړي چې د افغان مېرمنو بېړنیو اړتیاوو او حقونو ته ځواب وایي، په ځانګړې توګه د ولس په تر ټولو زیانمنونکو او ځنګ ته شوو قشرونو باندې ټینګار کوي. د مېرمنو ساحوي شبکې معلولیت لرونکو ښځو، د لرهکیو اړوند ښځو او د بشر حقونو ښځینه مدافعینو ته د دې څېړنې په زړه کې ځای ورکړی دی چې هغه ځانګړې ننګونې په ګوته او ځواب کړي چې یادې ډلې ورسره لاس او ګرېوان دي.

دا څېړنه د ۲۰۲۳ کال د جون او جولای میاشتو ترمنځ په ۱۱ ولایتونو: بلخ، بامیان، هرات، جوزجان، کابل، کندز، لغمان، ننګرهار، نیمروز، پکتیا، او پنجشیر کې ترسره شوه. د څېړنې د ساحو محتاطه ټاکنه بېلابېلې نژادي مخینې او ښاري او کلیوالي سیمې رانغاړي چې لوجیستیکي او امنیتي برخو ته هم په کې پام شوی و، او موخه یې د طالبانو تر رژیم لاندې د ښځو د ژوند پر مختلفو اړخونو باندې رڼا اچول دي.

د دې هدف د ترلاسه کولو لپاره، موږ په ستراتیژیکه توګه د څېړنې هغه ساحې وټاکلې چې د پښتنو، تاجکانو، هزاره ګانو، ازبکانو، او نورو نژادي مخینو د اختلاط استازیتوب وکړي. پر دې سربېره، زموږ تګلارې هم ښاري او هم کلیوالي سیمې رانغاړلې، چې موږ یې د دې جوګه کړو چې پر ښځو د طالبانو د محدودوونکو پالیسیو اغېز تحلیل کړو او د ژوندانه په شرایطو کې راغلو بدلونونو، سرچینو ته لاسرسي، رواني روغتیا، او هغو مختلفو ننګونو باندې پوه شو چې واک ته د طالبانو له رسیدلو څخه دوه کاله وروسته ورسره ښځې مخ دي.

په پای کې، لوجیستیکي او امنیتي چارو هم زموږ د ساحو د ټاکنې پر پروسه خپل اغېز درلود. زموږ د څېړنې د خپل ټیم او د ګډونوالو خوندیتوب تامینول زموږ لومړنۍ اندېښنه وه. په هغو سیمو کې چې حضوري مرکې په کې په خوندي توګه ترسره کېدلی شوې، موږ خپلو همکارو دفترونو او شبکو ته اجازه ورکړه. په هغو حالتونو کې چې امنیتي اندېښنې په کې زیاتې وې، موږ آنلاین میتودولوژۍ ته مخه کړه، لکه مجازي د ټولنې مباحثې (پنجشیر ولایت)، چې له هغو ګډونوالو څخه ډېټا ترلاسه کړو چې ډېر زیانمنونکي دي.

۲. میتودولوژي

په دې پېچلي وضعیت کې د افغان مېرمنو د تجربو او لیدلورو اړوند د ژورو نظرونو ترلاسه کولو لپاره، زموږ د څېړنې ژمن ټیم د ژورو بحثونو یوه لړۍ ترسره کړه، چې د ټولنې مباحثو په نوم یوه میتودولوژي یې کاروله. د دوو میاشتو په موده کې، دې میتودولوژۍ له ۵۰۰ ښځو سره ازادو مذاکراتو ته لاره هواره کړه، چې ۲۵ د ټولنې مباحثې په کې شاملې وې، چې تر څنګ یې جامع بیاکتنې هم ترسره شوې، لکه څنګه چې لاندې تشریح شوې دي.

۱،۲. د ټولنې مباحثې

د ټولنې مباحثو کې پنځه سوه ښځې په فعاله توګه ښکېلې وې، چې په غور سره د افغان ټولنې د متنوع قشرونو د استازیتوب لپاره ټاکل شوې وې. دا ګډونوال په ستراتیژیکه توګه له یوولسو متنوعو ولایتونو: بلخ، بامیان، هرات، جوزجان، کابل، کندز، لغمان، ننګرهار، نیمروز، پکتیا، او پنجشېر څخه غوره شوي ول. د څېړنې د میتودولوژۍ په توګه د ټولنې د مباحثو د ټاکلو تر شا انګېزه د دې ځانګړی ظرفیت و چې رغنیز بحثونه رامنځ ته او ارزښتناک نظرونه ترلاسه کړي.

د ټولنې د مباحثو کامیابي تنوع لرل دي، دا انتقادي لیدلوري ایجادوي او د ګډونوالو له جمعي پوهې او بصیرت څخه ګټه اخلي. دا د ټولنې غړو ته یو پلیټفارم وړاندې کوي چې سره یوځای شي، ستونزمنو موضوعاتو ته په ازادانه توګه ځواب وواېي، او په همکارۍ سره ورته احتمالي حل لارې ولټوي. دا میتودولوژي په ځانګړې توګه د هغو شرایطو لپاره ښه مناسبه ده چې شخړې ځپلي وي یا له شخړې وروسته حالت کې وي، چې د ټولنې خلک یې له راپورته کېدونکو خوځښتونو او حساسیت لرونکو اندېښنو سره لاس او ګرېوان وي. د مېرمنو ساحوی شبکه په افغانستان او سویلي اسیا کې له یوې لسیزې څخه زیات وخت راهیسې د ټولنې مباحثې ترسره کوي، چې په شخړه لرونکو سیمو کې د هغو ښځو غږونه مستند کړي چې اوریدل شوي نه وي.

۲،۲. د مېز پر سر بیاکتنه

د لومړنۍ ډېټا راغونډولو د هلو ځلو د تکمیل لپاره، موږ یوه بشپړه بیاکتنه ترسره کړه، چې یوه هراړخیزه ادبي بیاکتنه او د خپرو شوو موادو تحلیل په کې شامل و. دا مواد د افغانستان د ټولنیز-سیاسي پس‌منظر، هم د ۲۰۲۱ په اګست کې د طالبانو له بیاواکمنیدو مخکې او هم وروسته حالت، په اړه ول. زموږ په سرچینو کې له احصائیو تر څېړنیزو مقالو، او راپورونو پورې شامل ول چې د ملګرو ملتونو د ادارو، دولتي نهادونو، او نادولتي مؤسسو په شمول بېلابېلو باوري نهادونو چمتو کړي ول.

د مېز پر سر بیاکتنه د ارزښتناکو قرینو او شالید معلوماتو په وړاندې کولو کې ډېره مهمه وه، چې د لومړنۍ ډېټا په تفسیر کې یې مرسته وکړه. دې موږ جوګه کړو چې هغه تجربې او لیدلوري د افغانستان په پراخ ټولنیز-سیاسي پس‌منظر کې ځای کړو چې د ټولنې د مباحثو پر مهال له موږ سره شریک شوي دي.

د یادونې وړ ده چې لومړنۍ کمي ډېټا، د سټاټا سافټویر په کارولو سره، د تحلیل له یوې پروسې څخه تېره شوه چې زموږ د موندنو دقت او باوریتوب تامین کړي. د څېړنې د دې میتودولوژۍ له لارې، موږ موخه لرو چې پر هغو ننګونو رڼا واچوو چې افغان مېرمنې ورسره مخ دي او واک ته د طالبانو له رسیدلو وروسته موده کې د دوی د تجربو په اړه ژور پوهاوي کې مرسته وکړو. که څه هم دا یوه بېلګه ده، خو موږ ډاډ ترلاسه کړی و چې د ښځو د پراخې او متنوعې ډلې سره مرکې ولرو. دا ډېټا د کیفي معلوماتو د تفسیرولو او د ښځو د غږونو د اوچتولو لپاره زمینه مساعدوي.

۳. ننګونې او محدودیتونه

د طالبانو تر واک لاندې، ښځې د ځورونې له دوامدارې وېرې پرته د خپلو کارونو په ترسره کولو کې د پام وړ ننګونو سره مخ دي، په ځانګړې توګه کله چې د ښځو د حقونو او د بشر حقونو په څېر حساسو موضوعاتو ته ځواب وایي. د ډېټا راغونډولو د پروسې په دوران کې، زموږ د څېړنې ټیم له مختلفو ننګونو سره مخ و. په دې ننګونو کې د ژورو کلتوري خنډونو له امله، په ځانګړې توګه په لرې پرتو سیمو کې، ښځو ته د لاسرسي ستونزې، او همدا ډول د طالبانو له خوا عامه ځایونو ته د ښځو پر لاسرسي او تګ راتګ باندې لګېدلي محدودیتونه شامل ول. سخت امنیتي احتیاط، هم زموږ د څېړنې د ټیم او هم د ګډونوالو لپاره اړین و. پر دې سربېره، د حساسو جنسیتي او د بشر حقونو د موضوعاتو د بحث کولو لپاره د احتمالي سزاګانو دوامدارې وېرې ځینې ښځې وېرولې او انګېزه یې ورڅخه تروړله چې په فعاله توګه برخه واخلي او خپلې اندېښنې په روښانه توګه شریکې کړي. په ځینو ساحو کې، بې‌ثباته انټرنیټ او تیلیفوني اړیکو له لرې ترسره کېدونکې مرکې اختلال کړې. د دې ترڅنګ، د پنجشېر په څېر سیمو کې رواني شخړې او تاوتریخوالي د خوندیتوب ننګونې وړاندې کولې چې ښځو ته یې زموږ د ټیم لاسرسی محدود کړی و. له دې ټولو ننګونو سره سره، زموږ د څېړنې ټیم کلک استقامت وښود چې په بریالۍ توګه یې د باوري او مؤثقې ډېټا ډېری راټول کړ. د یادونې وړ ده، چې په راپور کې د یادو شوو محدودیتونو تصدیقول اړین دي چې په افغانستان کې د هغو ګڼ‌مخیزو ستونزو په اړه هراړخیز پوهاوی تامین کړو چې ښځې اغېزمنوي. له مستعارو نومونو ګټه واخیستل شوه، کاغذي اسناد له منځه یوړل شول او ډېټا په خوندي ډرایوونو کې زېرمه شوله.

له حقیقت پرده پورته کول: حقایق او څرګندوني

۱. ډیموګرافیک

د ډیټا تحلیل ښیي چې په دې څېړنه کې له نیمایي څخه کمې شاملې شوې ښځې (۴۳،۱٪) تر ۲۵ کلونو کم عمر لري، چې ورپسې بله ډله ۳۷،۵٪ له ۲۵-۳۵ پورې عمرونه لري. د پاتې ۱۸،۴٪ ځواب ویونکو عمرونه ۳۵-۵۴ کلونو پورې ول.

د ښځینه ځواب ویونکو له مجموعي څخه، نږدې ۴۰٪ یې د کور په کارونو بوختې وې، ۲۴،۵٪ یې زده کوونکې وې، ۷،۸٪ یې فعالانې او په پاتې ځواب ویونکو کې د بېلابېلو مسلکونو افراد لکه ښوونکې، ټولنیزې کارکوونکې، او د نورو بېلابېلو کاري مخینو لرونکې ښځې شاملې وې.

۲ جدول. شغل



۱ جدول. د عمر پېژنیال



په دې څېړنه کې شکېلو ښځو د بېلابېلو نژادي ډلو استازيتوب کاوه، چې ۴۴٪ يې ځانونه تاجکې، ۲۶٪ پښتنې، ۲۰٪ هزاره ګاڼې، او کوچنۍ سلنې يې ځانونه د ازبک، بلوچ، پشه يي، ترکمن، او ايماق نژادي ډلو پورې تړلې معرفي کول (۳ جدول وګورئ).

۳ جدول. نژاد



۴ جدول. مدني حالت



د مذهب پر بنسټ ډلبندي ښيي چې ډېرى ځواب ويونکې سني مسلمانانې وې، چې ۷۸،۶٪ يې تشکيلوله، په داسې حال کې چې پاتې ۲۱،۴٪ يې د شيعه مذهب پيروانې وې.

د مدني حالت پر بنسټ، له نيمايي څخه زياتې ځواب ويونکې (۵۱،۲٪) يې واده شوې وې، ۴۹٪ يې مجردې وې، او يوه کوچنۍ اعشاريه (۰،۲٪) يې کونډې وې.

۵ جدول د ځواب ويونکو تعليمي حالت ښيي. ډېټا ښيي چې ستر شمېر ښځو (۴۳،۹٪) د لسانس درجه ترلاسه کړې وه او ۳۵،۹٪ يې له پوهنتون وړاندې زده کړې بشپړې کړې وې. په ګډه سره دا ارقام ښيي چې ۷۹،۸٪ ښځو د کالج يا لسانس درجه ترلاسه کړې وه، چې ۰،۸٪ يې دوکتورا يا د ماسترۍ درجه لرله. يوازې ۱۵،۴٪ ښځې يې بې‌سواده وې. دا پايلې د پرمختګ په تېرو دوو لسيزو کې د ښځو زده کړو ته ورکړل شوې اهميت او توجه څرګندوي چې په ۲۰۲۱ کې د طالبانو له واکمنيدلو وړاندې موجود و.

۵ جدول. تعليمي حالت



د تاوتریخوالي قلمرو .

> "طالبان له تعلیم‌یافته او پوهو ښځو څخه ویرېږي، او غواړي چې دوی په جهالت کې ډوبې کړي."
>
> - د باميان ولايت څخه یوه مېرمن، د ټولنې مباحثه

د طالبانو د زیاتیدونکو محدودیتونو په دوران کې، د بشر حقونو ادارو او د ملګرو ملتونو متخصصینو په دوامداره توګه د افراطي تبعیض، سختو محدودیتونو، او د تاوتریخوالي د لوړو کچو په اړه خبرداری ورکړی دی، چې طالبانو وضع کړي دي . د ښځو، سولې او امنیت لپاره د جورج‌ټاون انسټیټیوټ د ۲۰۲۲-۲۰۲۳ د راپور له مخې، د طالبانو له واک ته رسیدلو وروسته، افغانستان د ۱۷۷ هیوادونو ترمنځ وروستي مقام ته لویدلی دی . د دې تنزیل عوامل د تاوتریخوالي د کچې بدتریدل او د ټولنې د خوندیتوب د احساس شړیدل دي. د ۲۰۲۲ په مارچ میاشت کې یوې ترسره شوې څېړنې وښودله چې د ښځینه مدني ټولنو ۷۷٪ مؤسسو، چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي قربانیانو ته یې حقوقي او د خوندیتوب خدمتونه وړاندې کول، د یاد کال لپاره خپلې پروژې درولې وې. د حکومت له خوا د حمایه کیدونکو حمایتي او حفاظتي میکانیزمونو منحلولو افغان مېرمنې د تاوتریخوالي د بېلابېلو ډولونو په وړاندې زیانمونکې کړې دي .

د طالبانو له خوا په اخیستل شوو ځینو اقداماتو کې یو هم د ۲۰۲۱ په مې میاشت کې د یو فرمان صادرول و چې حکم کوي چې ټولې افغان مېرمنې باید په عامه ځایونو کې مخونه پټ کړي. دې حکم روښانوله چې د یوې ښځې نارینه محرم له شرعي حجاب سره د نوموړي د انطباق مسؤلیت لري، او محرم به یې د هر ډول سرغړونې لپاره مسؤل بلل کېږي. دې پرېکړې په اغېزناک ډول پر ښځو باندې کنترول د کورنۍ نارینه غړو ته انتقال کړ، چې د ښځو په وړاندې تاوتریخوالي د کچې په لوړولو کې یې مرسته کړې ده، چې هغه خواشینوونکې ستونزې په ډاګه کوي چې افغان مېرمنې ورسره د طالبانو تر واک لاندې مخ دي.

د ۵۰۰ ښځو له ډلې څخه چې د مېرمنو ساحوي شبکې ورسره ښکېلتیا درلوده، ګډونوالو د تاوتریخوالي د بېلابېلو ډولونو په اړه خبرې وکړې چې دوی یې د خپل ژوند د یوې برخې په توګه، حتمي تجربه کوي. دې ښځو په ازاده توګه هغه ننګونې بحث کړې چې دوی ورسره لاس او ګرېوان دي، چې پر څلورو عمده برخو راڅرخېږي: د ښځو په توګه د تاوتریخوالي او تبعیض د بېلابېلو ډولونو تجربه کول، عدالت ته د لاسرسي په وړاندې له خنډونو سره مخ کیدل، له خرابیدونکې رواني روغتیا سره لاس او ګرېوان کیدل، او بشردوستانه مرستې ته په لاسرسي کې له ستونزو سره مخ کیدل. دا موندنې د هغو سختیو په اړه یوه هراړخیزه لیدنه وړاندې کوي چې افغان مېرمنې ورسره په ورځني ژوند کې مخ دي.

۱،۲ په سیوري کې: د کورنۍ او ټولنو دننه تاوتریخوالی

په عمومي ډول، د ډېټا تحلیل ښیي چې د دې څېړنې په راپور کې د ښکېلو ښځو هېښوونکې ۷۱،۸٪ د طالبانو له واک ته رسیدلو وروسته، د خپلې کورنۍ د غړو یا د ټولنې د غړو له خوا د تاوتریخوالي د بېلابېلو بڼو د تجربه کولو خبر ورکولو.

۶ جدول. د کورنۍ یا ټولنې د غړو له خوا تاوتریخوالی



*

37. For the purposes of this report the term violence and "violence against women" means any act of gender based violence that results in, or is likely to result in, physical, sexual or psychological harm or suffering to women, including threats of such acts, coercion or arbitrary deprivation of liberty, whether occurring in public or in private life. Reference: Declaration on the Elimination of Violence against Women Proclaimed by General Assembly Resolution 48/104 of 20 December 1993. Reference: Microsoft Word - Document1 (un.org)

38. https://www.ohchr.org/en/statements/2023/06/afghan-women-suffer-extreme-discrimination-restrictions-and-violence-deputy-high

39. https://giwps.georgetown.edu/wp-content/uploads/2023/10/WPS-Index-full-report.pdf

40. https://asiapacific.unwomen.org/sites/default/files/2022-06/af-Research-on-Challenges-Barriers-Opportunities-women-CSOs_full-report_0.pdf

نجیبه، له کابل څخه، له تاوتریخوالي سره مخ مېرمن

نجیبه، چې ۴۵ کاله عمر لري، تل یې د خپل ځان او خپلې کورنۍ لپاره د ښه ژوند لرلو هیله لرله. نوموړې په یوه محلي مؤسسه کې د صفاکارۍ په توګه دنده ترسره کوله، چې د خپلې کورنۍ لپاره یې نفقه ګټله او د کورنۍ په عاید کې یې ونډه اخیستله. په هر حال، د نوموړې مېړه چې بدني او رواني متشدد خوی لري، تل د نوموړې پر سر لکه توره وریځ تاویده. په کور کې له ناوړه استفادې سره سره، نجیبې وویل چې نوموړې په خپل کار کې د سکون احساس کاوه. په اداره کې یې همکاران د کورنۍ د غړو په څېر ول، او په هر ډول سختو شرایطو کې یې د نوموړې څنګ نیولی و. دوی نوموړې هڅوله چې د ناوړه سلوک په اړه خپل غږ پورته کړي او حتی له هغې سره یې د حقوقي مرستې ترلاسه کولو کې مرسته کوله.

مګر دا هر څه هغه وخت بدل شول چې یاده مؤسسه په هیواد کې د سیاسي تحول په پایله کې وتړل شوه. هغې خپله دنده له لاسه ورکړه، ورسره یې هغه حمایوي سیستم هم له لاسه ورکړ چې نوموړې پرې له ډېر وخت راهیسې تکیه وه. هغې یادونه وکړه چې «ما خپل ځان له ناوړه استفادې څخه ډکو زوجي اړیکو کې وموند، چې د تېښتې هیڅ لاره ترې نه وه. په داسې حال کې چې د ښځو چارو د وزارت منحلولو زما نهیلي نوره هم زیاته کړه ځکه چې زما غوندې ښځو ته د مرستې ترلاسه کولو مرجع نوره پاتې نه شوه.»

هغه سیستم چې باید نوموړې یې حمایه کړې وای، نوموړې یې پر ډاګ پرېښوده، او نهیلي او یوازې پاتې شوه.

نوموړې پوهیدله چې دې ډول ژوند ته ادامه نه شي ورکولی. هغې غوښتل چې د تاوتریخوالي له دې کړۍ څخه ځان ازاد کړي او د خپل ځان او خپلو ماشومانو لپاره غوره ژوند جوړ کړي. خو نه پوهیده چې چېرته لاړه شي او څنګه یې پیل کړي.

نجیبه اوسمهال په خپل کور کې ده، او د خپل مېړه له خوا وهل ټکول او شکنجې تجربه کوي. نوموړې ځان بندي او نهیلی احساسوي، چې د چېرته تګ لاره یې هم نشته. خپلې کورنۍ یې هم شړلې ده، او ورته یې ویلي چې هغوی یې نور نشي حمایه کولی. نوموړې وویل «زه په همدې ناوړه استفاده کوونکې اړیکې کې له پاتې کیدلو پرته بل انتخاب نه لرم او د یو خامخا پېښیدونکي غمجن برخلیک په تمه شپې سبا کوم.»

بد نیمروز، کندز، او بامیان ولایتونو کې د دې پېښو کچه تر ټولو لوړه ښودل کیدله، چې ۱۰۰٪ ته رسیدله، په داسې حال کې چې جوزجان کې د پېښو کچه تر ټولو ټیټه ۲۳٪ وه.

د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی په کور کې له بند پاتې کیدلو هاخوا هم خپور دی. د دې راپور لپاره د مرکه کوونکو افغان مېرمنو د پام وړ برخې، نږدې ۷۷٪، راپور ورکولو چې د طالبانو یا نورو نادولتي فعالانو له خوا یې تاوتریخوالی تجربه کړی دی.

د سیمې پر بنسټ د ځوابونو ډلبندي ښیي چې د بلخ، کندز، او بامیان ولایتونو څخه ټولو ځواب ویونکو (۱۰۰٪) د دې ډلو له خوا تاوتریخوالی تجربه کړی دی. د هرات ولایت څخه هم زیاتو ښځو (۸۰٪) د ورته تجربې لرلو خبر ورکړی دی.

۷ جدول. د طالبانو له خوا تاوتریخوالی



۲,۲. ناامنی

د طالبانو له خوا په هیواد کې د امنیت له دعوو سره، له نیمايي څخه زیاتو ګډونوالو، چې د ټولو ځوابویونکو ۵۶،۳٪ یې تشکیلوله، بیان کړه چې د طالبانو تر رژیم لاندې د ناامنۍ احساس کوي.

د یادولو وړ ده چې د سروې ۱۵،۶٪ ځواب ویونکو ښوزلې، د عاید سرچینو نشتوالی، یا بې‌روزګاري د دوی د ناامنۍ د احساس کولو د اضافي عواملو په توګه په ګوته کړل . د ۲۰،۴٪ په شاوخوا کې ځواب ویونکو په ځانګړې توګه طالبان، له ښځو سره د د متشدد چلند ترځنګ، د دوی د ناامنۍ د لومړنۍ سرچینې په توګه یاد کړل.

> "زه د باندې نه وځم، ځکه چې خوندې احساس نه کوم. زه د طالبانو له متشدد چلند څخه وېرېږم. زه نه غواړم چې په عام محضر کې سزا راکړل شي، یا په کوڅه کې سپکه کړل شم. زه په پخپله د وسلوالو طالبانو له یاغیانو وېرېږم."
>
> - په نیمروز کې یوه مېرمن، د ټولنې مباحثې

بېر دې سربېره، ۱۸،۶٪ ګډونوال باور لري چې د وسلوالې ښځې نشتوالی اوسمهال د ښځو لپاره د بدنې امنیت په توګه نه شي تعبیرېدلی. د ناامنۍ د تر ټولو لوړې کچې راپور په نیمروز، هرات او بامیان ولایتونو کې ورکړل شوی دی.

۹ جدول. د ښځمنتوب په خاطر تبعیض



*

41. Discriminat تبعیض هغه وخت رامنځ ته کېږي چې کله یو شخص نه شي کولی خپل بشري حقونه یا نور قانوني حقونه له نورو سره په مساوي توګه د یو غیرعادلانه توپیر له امله وکاروي چې په پالیسۍ، قانون یا چلند کې ځای پر ځای شوی وي. ماخذ: Discrimination - Amnesty International

۸ جدول. نا امنی



فهیمه، یوه ځوانه مور چې له خپلو دوو زامنو سره په بامیان کې اوسېږي، وایي «زما مېړه په ایران کې کار کوي». په لړزېدلي غږ سره یې یادونه وکړه، «ما له پخواني حکومت سره کار کاوه، او زه هره شیبه وېرېږم چې طالبان به راشي او ما به ونیسي. که چېرته مور د عاید یوه سرچینه لرلی او مېړه مې له موږ سره وای، نو ما به خوندي احساس کاوه.»

۳,۲. د ښځمنتوب لامله محکوم کېدل

په هېښوونکې توګه ۹۱،۴٪ ځواب ویونکو خبر ورکولو چې د ښځمنتوب په خاطر د جنسیت پر بنسټ تبعیض سره مخ شوي دي . د پنجشېر، نیمروز، کندز، هرات او بامیان ولایتونه هغه سیمې دي چې د ښځو په وړاندې شدید تبعیض په کې په ګوته شوی دی.

که څه هم دا پوښتنه تړلې پوښتنه وه، ګډونوالو ډېرې وختونه د ښځو عمومي وضعیت شودلو، د ښځو پر تګ راتګ باندې د طالبانو وضع شوي محدودیتونه، د کار حق، او د زده کړو حق یې د تاوتریخوالي د بنو په توګه په ګوته کول چې په ځانګړې او عمدي توګه یې ښځې تر هدف لاندې نیولې، چې جنسیتي تبعیض/ جنسیتي ځورونه جوړوي. په هرات کې د ټولنې په یوه مباحثه کې، یوې ګډونوالې وویل «طالبان موږ په فزیکي توګه نه وژني، بلکې د ژوند او راتلونکې لپاره یې زموږ ټولې هیلې رامړې کړې دي.» یوې بلې ښځې وویل «موږ د سړیو وینځې شوي یو. موږ ته یوازې دا دنده راکول شوې ده چې ورونو او پلرونو ته ډوډۍ تیاره کړو، د مېړونو جنسي اړتیاوې وړپوره کړو، یا د ماشومانو پاملرنه وکړو.»

۱۰ جدول. د اساسي بشري حقونو څخه سرغړونې



۴,۲. ټوټه ټوټه شوي حقونه: د اساسي بشري حقونو سرغړونه

په ټوله کې، ۸۶٪ ځواب ویونکو خبر ورکولو چې طالبانو له دوی څخه ټول اساسي بشري حقونه اخیستي دي. د نیمروز، کندز، بامیان او هرات ولایتونو کې تر ټولو ډېرې پېښې وې، چې ورپسې پنجشېر هم ډېر وروسته نه و.

> "له زده کړو څخه د نجونو محرومول، په دفترونو کې له رسمي دندو څخه محرومول، د انفرادي او تجارتي فعالیتونو څخه منع کول، له چکر او تفریح څخه محدودول، او له ازاد تګ راتګ څخه بندول ټول د اساسي او بشري حقونو محرومیت اوج ته رسوي. کله چې له دې محرومیتونو سره څوک مخ وي، نو د راتلونکي لپاره هیڅ هیله نه شي لرلی. کله چې مونږ د دې محرومیتونو په اړه خپل غږ پورته کوو، تر ټولو سخت ممکنه غبرګون ترلاسه کوو (حتی حبس او وهل ټکول."
>
> \- له لغمان څخه د ښځو د حقونو فعاله، د ټولنې مباحثه

> "د پخوا په څېر دوامداره ځانمرګي بمونه او وسلوالې شخړې نشته. خو زه دې ته امنیت نه شم ویلی. زموږ بدني او رواني امنیت په شدیده توګه قرباني شوی دی؛ زموږ ټول بشري او قانوني حقونه له موږ تروړل شوي دي. موږ حتی دا محدودیتونه نه شو ننګولی. موږ په کور کې یا له کوره بهر خوندي احساس نه کوو، هر وخت د طالبانو له خوا د ځارنې یا توقیف وېره موجوده ده."
>
> \- بله لغمان څخه د ښځو د حقونو فعاله، د ټولنې مباحثه

د دې مېرمنې پیغام د هغو ننګونو یو تیاره انځور کاږي چې افغان مېرمنې ورسره د طالبانو تر حاکمیت لاندې لاس او ګرېوان دي. یوې بلې ځواب ویونکې په شدت سره بیان کړه چې د دوی د مخالفت غږ په سختۍ سزا سره ځوابېږي، چې په کې حبس او بدني تاوتریخوالی شامل دي. د حقونو لپاره د دوی له سوله ییزو او مدني هلو ځلو سره سره، طالبان د دوی په وړاندې وسلوال ځواک کاروي. نوموړې وویل، هغه څه چې په ځانګړې توګه ډېر خواشینوونکي دي هغه د نړیوالو د ملاتړ نشتوالی او د او د دې کړنو غندل دي. د بشري حقونو ادارې او نړیواله ټولنه، د نوموړې په نظر، چپ پاتې ده او د دې مېرمنو سره یې لازمه مرسته نه ده کړې.

۱۱ جدول. د هویت پر بنسټ تبعیض



۵,۲. له حدودو ورتېر تبعیض

دا ډېټا هغه پراخې او پرېشانوونکې ننګونې په ډاګه کوي چې افغان مېرمنې ورسره د طالبانو تر حکومتولۍ لاندې مخ دي، چې نه یوازې د جنسیت پر بنسټ جانبداریو څخه سرچینه اخلي بلکې د مذهب، نژاد، او فزیکي سلامتۍ په څېر عواملو څخه هم اغېزمنې شوې دي. نږدې ۷۶٪ ځواب ویونکو خبر ورکړی چې د نژاد، مذهب، یا بدني هویت پر بنسټ له تبعیض سره مخ شوې دي. د یادونې وړ ده چې دا ببېلګې د نیمروز، کندز، بامیان، پنجشېر او هرات په ولایتونو کې ویل شوې دي.

زهرا، د نادولتي مؤسسې کارکوونکې او معلولیت لرونکې ښځه، ننګرهار

زهرا، د ننګرهار، افغانستان اوسیدونکې، په خپل ژوند کې له ډېرو ننګونو سره مخ شوې ده. نومورې څو کاله وړاندې معلوله شوه او مېړه یې له لاسه ورکړ، چې هغه پخپله د کورنۍ یواځینۍ نفقه ګټونکې پاتې شوه. «له معلولیت سره سره، ما په یوه محلي نادولتي مؤسسه کې نه ستړې کیدونکی کار کاوه، یوازې د دې لپاره نه چې خپله کورنۍ حمایه کړم، بلکې د ې لپاره چې په خپله ټولنه کې یو څه تغیر رامنځ ته کړم.» په مؤسسه کې دنده د نومورې لپاره د ژوند اسره وه. له دې ځایه یې ثابت عاید درلود، چې نومورې یې د دې جوګه کړې وه چې پر دسترخوان خواړه ولري او ډاډه اوسي چې ماشومان یې روغتیا او زده کړو ته لاسرسی ولري. نومورې له ټولو سختو سره د مخ کیدو باوجود، د کمال احساس کاوه او خپلې کورنۍ ته د نفقې په برابرولو یې ویاړ کاوه.

په هر حال، د ۲۰۲۱ له تحول وروسته هر څه بدل شول. سیاسي اړودوړ او د نړیوالې مرستې وچیدلو پر محلي نادولتي مؤسسو باندې ویجاړوونکی اغېز درلود. ډېری ادارې د خپلو دروازو تړلو ته اړ شوې یا یې د تمویل د نشتون له امله کارکوونکي راکم کړل. زهرا د هغو بې‌شمېره افرادوله ډلې څخه وه چې له دندې څخه منفک شوي ول، چې هغه او کورنۍ یې په سخت وضعیت کې پرېښودل. د دندې له لاسه ورکول د زهرا لپاره سخته ضربه وه. نومورې یادونه وکړه «زه د عاید بله سرچینه نه لرم، او په بل ځای کې د کار پیدا کولو فرصت بېخي په نشت حساب دی، به ځانګړې توګه زما د معلولیت او په یاد ولایت کې د کمیدونکو فرصتونو په پام کې نیولو سره. دا چې زه واسطه نه لرم نو ځکه مې هیڅ بشردوستانه مرسته نه ده ترلاسه کړې، د بشردوستانه مرستو په وېش کې هیڅ شفافیت نشته او د څارنې هیڅ ډول سیستم وجود نه لري.»

زهرا په لړزیدلي غږ او نهیلۍ سره زیاته کړه: «زه وېرېږم چې د نفقې نه وړاندې کولو له امله به مې ماشومان له لاسه ورکړم، او زما وضعیت ورځ تر بلې خرابېږي.»

برعکس، نژادي لږه‌کي له ناراحتوونکي حقیقت سره لاس او ګرېوان دي، چې د خپلو اساسي حقونو لکه د کار فرصتونو، زده کړو، تفریح، او مذهبي ازادۍ څخه بې برخې شوي دي، په ځانګړې توګه بشردوستانه مرستو ته د لاسرسي په برخه کې. د دوی ستونزې د ژوندانه د اساسي اسانتیاوو او کاري فرصتونو په نشتوالي سره نورې هم زیاتې شوې دي، چې په کې د لږه‌کیو لپاره هیڅ ډول اسانتیاوې برابرې شوې نه دي. دوی ډېری وختونه د تاوتریخوالي او هدفي وژنو هدف وي، د بیان او سیاسي ګډون ازادي نه لري، ورسره له دولتي بستونو څخه محروم شوي دي، چې هغو خلکو ته ترجیح ورکول کېږي چې له حاکمې ډلې سره مطابقت ولري. له پوهنتونونو څخه د هزاره ښوونکو منفکول د دې تبعیضي کړنې تر ټولو ښکاره بېلګه ده.

ډېرې ګډونوالو د تعذیب، تاوتریخوالي، ځورونې، وېرونې، او ناسم چلند د بېلګو د شاهدۍ خبر ورکولو چې په پنجشېر کې یې د تاجک ټولنې افراد یا د دوی په ګاونډ یا ټولنه کې هزاره نژادي لږه‌کي تر هدف لاندې نیولي ول. له نظامیانو یا پولیسو سره پخواني تړاو لرونکي افراد د اوسني رژیم څخه د غچ اخیستنې وېره لري، چې ځینې یې دې ته اړ شوي دي چې له هیواد څخه په تېښتې بل چېرته پناه واخلي. پر دې سربېره، هغه کسان چې د مقاومت ملي جبهې سره پر تړاو تورن دي د طالبانو له خوا تاوتریخوالی زغمي، چې په کې پر سرېو او ځوانو هلکانو باندې تحمیل شوی بې‌رحمانه تعذیب هم شامل دی.

> "په پنجشېر کې، موږ په کور کې نظربند یو، پخپلو سترګو وینو چې څنګه ښځې په مختلفو بهانو د ظلم ښکار کېږي، چې ډېری وختونه یې دلیل د دوی نژادي تړاو وي".
>
> - له پنجشېر څخه یوه مېرمن

د معلولیت لرونکو ښځو لپاره، ډېرو د تاوتریخوالي ترځنګ، عدالت ته د لاسرسي، رواني روغتیایي خدمتونو ته د لاسرسي، او اساسي خدمتونو لکه روغتیا او زده کړو ته د لاسرسي د نشتوالي یادونه هم وکړه. یوازې دا نه، بلکې معلولیت لرونکې ښځې له دولتي مکافاتو او بشردوستانه مرستې څخه هم بې‌برخې شوې دي چې د دوی پر هوساینه یې د پام وړ اغېز کړی دی. د دوی د ځانګړو اړتیاوو لپاره د اختصاص شوو

مرستندویه خدمتونو او د اډووکیسي ادارو په اړه د پوهې نشتوالی هغه ستونزې نورې هم سختوي چې دا ښځې ورسره لاس او ګرېوان دي.

> “په تېر حکومت کې ما تقاعد اخیست، خو اوس یې نه راکوي. زما مالي وضعیت ښه نه دی.”
>
> - د لغمان څخه یوه معلولیت لرونکې ښځه، د ټولنې مباحث

یوې بلې معلولیت لرونکې ښځې تائید کړه چې هغه مکافات چې نومورې له پخواني حکومت څخه ترلاسه کول، اوس نه ورکول کېږي، چې نومورې یې نوره هم بېوزلۍ طرف ته ورټېل وهلې ده. نومورې پر نړیوالو او ملي مؤسسو غږ کوي چې له دوی سره مرسته وکړي او مسلکي روزنې ورته ورکړي. نومورې زیاته کړه چې له دې لارې «معلولیت لرونکې ښځې عاید ترلاسه کولی شي، له بېوزلۍ خلاصیدلی شي، او پر ځان بسیا کیدلی شي.»

زینب، هزاره مېرمن، کابل

زینب، یوه ۲۴ کلنه هزاره مېرمن ده چې په کابل ښار کې اوسېږي. نومورې د کورنۍ د یو څه رازونو له امله ۶ کاله پخوا واده ته اړ شوې وه، او له هغه راهیسې له ډېرو ستونزو سره مخ وه. «زما واده زما له خپل رضایت پرته ترسره شو. د دې تر شا ځینې کورني رازونه دي چې زه یې شریکولی نه شم، خو د یادو رازونو له مخې زما ژوند د یوې لوبتکې په څېر شو. زه له دې واده سره خوشاله نه وم او د واده له ورځې راهیسې د خپل مېړه له خوا له بدني او رواني تاوتریخوالي سره مخ یم.»

د حکومت له سقوط وروسته، د نومورې د مېړه له خوا تاوتریخوالی ورځ تر بلې زیاتیدو، تر دې چې د نومورې د مخ هډوکي یې څو ځلې مات کړل. د شدید تاوتریخوالي له امله، زینب د مېړه کور پرېښود او د پلار کور ته ورغله. نومورې پرېکړه وکړه چې له خپل مېړه څخه طلاق واخلي. «د ۶ کلونو لپاره مې کافي تاوتریخوالی وزغملو، خو نوره خبره له زغم وتې وه. هغه درد او تروما چې ما هره ورځ تجربه کوله له دې امله وه چې زه له داسې خلکو سره اوسیدلم چې یوازې یې زما ژړا لیدل غوښتل او هره ورځ به وهل ټکول کیدلم. هیچا ماته د یو انسان په سترګه نه کتل. زه هلته سپکیدلم، وهل کیدلم او د خپل مېړه لپاره یو بوج ګڼل کیدلم.»

نومورې د طالبانو د ولسوالۍ چارواکو ته عارضه شوله، خپل شکایت یې ثبت کړ او د طلاق غوښتنه یې وکړه. له هغه راهیسې یې اوږد انتظار وایست، او له ډېرو لیدنو کتنو وروسته، د طالبانو حکومت د نومورې قضیه حل نه کړه. «هیچا هم زما قضیې ته توجه ونکړه، د طالبانو غړو چې هلته یې کار کاوه، زه له نظره غورځولم. خو دې چارې زما عزم نور هم ټینګ کړ چې له دې واده ځان خلاص کړم. ما خپلو هڅو ته دوام ورکړ.»

زینب نهیلې نه شوه او د خپلې قضیې تعقیبولو ته یې ادامه ورکړه او په پای کې د خپل طلاق په رسمي کولو بریالۍ شوه. په هر حال، دا چې د هغې مېړه غیرهزاره و او د طالبانو اداري ته یې غټ رشوت ورکړی و، نو د طلاق حکم نقض شو او د زینب قضیه رد شوه. زینب ځان کمزوری احساس کړ او له دې ظلمونو څخه پوزې ته راغلې وه. نومورې کلک احساس کاوه چې د جنسیت پر بنسټ ورسره تبعیض کېږي، په ځانګړي توګه له دې امله چې هزاره ده، چې په زیاتیدونکې توګه د طالب ځواکونو له خوا تحقیرېږي او توهینېږي.

«په هزاره قوم پورې د تړاو له امله، طالبانو زه تحقیر او توهین کړم چې ولې له خپل مېړه څخه طلاق غواړم چې له غیرهزاره قوم څخه دی.» نومورې درک کړه چې د یوې هزاره مېرمن په توګه، د طالبانو ځواکونو ته ورتګ، د هر ډول مرستې یا کومک غوښتل، هسې بې مانا دي.

«د طلاق اخیستلو د هیلو له لاسه ورکولو سره سره، ما د خپل ځان د ژغورنې لپاره بدیلې لارې ولټولې.» د نومورې کورنۍ ته د هغې د خسرګنۍ له خوا ګواښونه کیدل او نومورې اړ شوه چې د خپل پلار له کورنۍ سره له افغانستان څخه وتښتي او په ایران کې پناه واخلي. هغه او کورنۍ یې اوسمهال په ایران کې کډوال دي، او مېړه یې لا تر اوسه طلاق نه دی ورکړی، چې نومورې یې په معلق حالت کې پرېښې ده.

۳. د عدالت لټول

د ۲۰۲۱ په اګست کې د طالبانو له بیاواکمنېدلو وروسته، د افغانستان عدلي سیستم سقوط شو. طالبانو د ټولو مسلکي حقوقي کارکوونکو پر ځای خپل کسان وګومارل، چې په اصل کې د ديني مدرسو فارغان دي. دا انتقال د سلګونو ښځینه وکیلانو او څارنوالانو ترڅنګ، د ۲۵۰ څخه زیاتو ښځینه قاضیانو د اخراج شاهد و، چې په اغېزناکه توګه يې دوی له حقوقي سیستم څخه محوه کړې.

په پایله کې، د حقوقي اجراآتو اړوند قوانین او قواعد، عدلي ګومارنې، او د عادلانه محاکمو کړنلارې، ځانګړې محکمې، د هغو په شمول چې د جنسي او جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي لپاره ځانګړې شوې وې، منحل شوې. له حقوقي سیستم څخه د ښځو دا سیستماتیک محرومیت، چې ښځینه قاضیانې، څارنوالانې او وکیلانې په کې شاملې دي، نه یوازې د تبعیض د ښکاره کړنو استازیتوب کوي، بلکې عدالت ته د ښځو لاسرسی هم له خنډونو سره مخ کوي.

د دې کړنو پایلې نورې هم غځېدلې دي، ځکه چې ډېری ښځینه قاضیانې د هیواد پرېښودلو یا د خپل خوندیتوب د تامین لپاره خفیه ګامونو اخیستلو ته اړ شوې دي، ښځینه وکیلانې خپل جوازونه تمدیدولی نه شي، چې د افغانستان د حقوقي پس‌منظر بنسټ لا پسې تخریبوي. له ښځینه وکیلانو، قاضیانو او څارنوالانو پرته، ښځې او د هغوی کورنۍ نه شي کولی چې عدالت ته مساوي لاسرسی ولري.

د تاوتریخوالي اړوند وضعیت په ځواب کې، ۲۶،۴٪ ځواب ویونکو د طالبانو په محکمو کې د شکایت درج کولو لپاره زړه نا زړه کیدل بیان کړل، چې اصلي محرک يې د احتمالي غچ اخیستنې وېره ده. د ۱۳،۸٪ په شاوخوا کې مېرمنو دا باور درلود چې طالبان به په ربښتیني توګه د دوی اندېښنو ته ځواب ونه وايي يا به يې شکایتونه وانخلي، چې اصلي لامل يې د دوی جنسیت دی. نورو ۱۲،۶٪ ځواب ویونکو د غیررسمي چینلونو له لارې عدالت ترلاسه کولو ته ترجیح ورکوله، چې ډېر ټینګار يې د بالقوه منځګړو په توګه پر قومي مشرانو او ديني عالمانو و چې د دوی شکایتونه حل کړي. له دې جملې څخه، ۳،۳٪ ښځو يې يو عام لیدلوری لرلو چې طالبان، د دوی د اساسي حقونو د پایمالولو د اصلي مرتکبینو په توګه، دا اراده نه لري چې پر خپلو پرېکړو له سره غور وکړي او په اغېزناکه توګه د دوی ستونزې حل کړي.

په یادولو ارزي چې که څه هم ښځې په صریح ډول عدالت ته له لاسرسي څخه منع شوې نه دي، د طالبانو له خوا وضع شوې محدودیتونه، لکه د محرم شرط، او د ښځو په وړاندې عمومي زشت سلوک، د پام وړ خنډونه ایجادوي چې ښځې د عدالت ترلاسه کولو څخه زړه توري کړي. د دې ترڅنګ، د ښځینه کارکوونکو لپاره د خوندیتوب د میکانیزمونو نشتوالی او زیانمنونکی وضعیت دا ویجاړوونکی اغېز لا پیاوړی کوي.

۱۲ جدول. پولیسو یا محکمې ته لاسرسی



”زه خپلو خپلوانو ته مراجعه کوم، نه حکومتي ادارو ته، ځکه چې دوی ماته غوږ نه نیسي. د عدالت ترلاسه کولو په وړاندې ډېر خنډونه دي، چې پخپله طالبان، د دوی ناسم سلوک، او روان اداري فساد په کې شامل دي. زما وړاندیز دا دی چې طالبان خپل ځانونه اصلاح کړي او خپلې کړنې سمې کړي.“

- له بلخ څخه یوه مېرمن، د ټولنې مباحثه

*

42. https://rawadari.org/040620231635.htm/

43. https://www.ohchr.org/sites/default/files/documents/issues/ijudiciary/statements/2023-01-17/202301-stm-sr-ijl-sr-afghanistan-day-endangered-lawyer.pdf

۴. رواني روغتيا

رواني روغتيا، د روغتيا د نړيوال سازمان له تعريف سره سمه، د فرد روغتيايي حالت ته وايي، چې دوی جوګه کوي چې په اغېزناکه توګه د ژوند فشار اداره کړي، خپل قوت درک کړي، په زده کړه او توليداتي کار کې ښکېل شي، او په خپلو ټولنو کې مثبته ونډه واخلي. په افغانستان کې، د طالبانو تر واکمنيدو وړاندې، د ۲۰۱۹ د نړيوالو ناروغيو د بار څېړنه، چې د روغتيايي متريک او ارزونې د انستيتيوټ له خوا ترسره شوې وه، ښيي چې ۵،۱۳٪ نفوس، چې ۱،۴۴ مليونه افراد کېږي له ډيپريشن يا ژور خپګان سره مخ دي. د يادولو وړ ده چې دا ډيټا د ستر جنسيتي غيرمساوات څرګندونه کوي چې ۴۷٪ افغان مېرمنې د ډيپريشن په شمول رواني روغتيايي ستونزې تجربه کوي. د دې سترې کچې لاملونه په افغانستان کې مزمنه تروما، عاطفي ناوړه استفاده، او ژورې ريښې لرونکې مردسالارانه اصول دي، چې په ښځو کې يې د ژور خپګان او د ځانوژنې په فکرونو رامنځ ته کولو کې مرسته کړې ده، همدا ډول يې نور لاملونه د جنسيت پر بنسټ تاوتريخوالی، اجباري واده، او د شخړې اوږدمهاله اغېز دي.

په ۲۰۲۱ کې، يوې بلې څېړنې څرګندوله چې ۷۹،۱٪ افغان مېرمنې د طالبانو له واک ته رسيدلو وړاندې له ډيپريشن سره لاس او ګرېوان وې.

د روغتيا د نړيوال سازمان د ژوند کيفيت چوکاټ د يو فرد د عمومي روغتيا د يو جامع مقياس په توګه کار ورکوي، چې د دوی د ژوند مثبت او منفي دواړه اړخونه په پام کې نيسي. د طالبانو له خوا پر ښځو باندې لګيدلو دوامداره او شديدو بنديزونو د دوی د ژوند پر کيفيت سخت اغېز کړی دی، چې د رواني روغتيايي ننګونو سبب ګرځېدلي دي. د درملو د ملي کتابتون له خوا د ۲۰۲۱ يوه څېړه شوې څېړنه، چې د طالبانو تر حکومتولۍ لاندې په ښاري سيمو کې د استوګنو ښځو د ژوند پر کيفيت، ډيپريشن او انزايټي باندې تمرکز کوي، د دې ښځو ترمنځ د ډيپريشن خپراوی په ډاګه کوي. يوه بله څېړنه چې د افغان ښځينه محصلانو رواني روغتيا او ځانوژنې تحليلوي ښيي چې ۶۹،۷٪ يې په ۲۰۲۱ کې د طالبانو له واکمنيدلو وروسته د ډيپريشن کلينيکي نښې نښانې ښيي.

وينا

> زه د ښځو د بشري حقونو يوه لېواله مدافع وم، چې خپل ژوند مې په خپله ټولنه کې د ښځو د حقونو پياوړتيا او اډووکيسي ته وقف کړی و. اوس، زه پخپله بې دندې يم، او د خپل خوندیتوب په اړه په وېره کې يم. ما د تخليې لپاره مختلفو ادارو ته رسيدګي وکړه، خو هيچا مې مرسته ونکړه. دې چارې زما پر رواني روغتيا ژور اغېز درلود، او زه داسې احساس کوم چې د اړتيا پر وخت هر چا پرېښودلم."
>
> د ښځو د بشري حقونو د يوې مدافع وينا، چې نه يې غوښتل نوم يې ذکر شي، کندز

د ۲۰۲۳ کال په جولای مياشت کې د ملګرو ملتونو له خوا يو خپاره شوي راپور څرګنده کړه چې ۹۰٪ افغان مېرمنې په لوړه کچه د انزايټي، تجريد او ډيپريشن احساسات تجربه کوي. د دې پايلو په عواملو کې د طالبانو له خوا وضع شوي محدوديتونه شامل و چې د ښځو د تګ راتګ ازادي او عامه ځايونو لکه ښوونځيو، پوهنتونونو، پارکونو، جيمونو، او عامه حمامونو ته د دوی لاسرسی محدودوي. د دې ترڅنګ، د مفاهمې وسايلو، لکه موبايل او انټرنيټ ته د لاسرسي نشتوالي دا وضعيت نور هم تشديد کړی دی، چې د خفيه او آنلاين وسايلو له لارې دوامدارو زده کړو ته د مقاومت او فرصتونو لارې چارې محدودوي.

په پښيمانۍ سره، حتی د هيواد له سقوط وړاندې هم د رواني روغتيا خدمتونو ته کم لاسرسی موجود و. د روغتيا نړيوال سازمان خبر ورکوي چې د افغانستان د رواني روغتيا خدمتونه يوازې محدود نه، بلکې د ناکافي فنډونو لرلو له امله د ټيټ کيفيت لرونکي دي. په ټول هيواد کې، د رواني روغتيا لرونکو ناروغانو لپاره يوازې ۳۲۰ بسترونه موجود دي.

د افغانستان لپاره د روغتيا د نړيوال سازمان د ۲۰۱۷ اطلس له مخې، د رواني روغتيا د مسلکي کارکوونکو د يادونې وړ کمبود موجود دی، چې د هرو ۱۰۰۰۰۰ کسانو لپاره يوازې ۰،۲۳ رواني ډاکټران، ۰،۱۰ د رواني روغتيا نرسان، او ۰،۳۰ ارواپوهان

*

44. https://www.who.int/news-room/fact-sheets/detail/mental-health-strengthening-our-response

45. https://link.springer.com/article/10.1007/s44202-023-00068-4#ref-CR10

46. https://pesquisa.bvsalud.org/global-literature-on-novel-coronavirus-2019-ncov/resource/pt/covidwho-2274018

47. https://www.who.int/tools/whoqol/whoqol-bref

48. https://www.ncbi.nlm.nih.gov/pmc/articles/PMC10401256/

49. https://pubmed.ncbi.nlm.nih.gov/35390352/

50. https://www.emro.who.int/afg/programmes/mental-health.html

سميرا، ۱۶ کلنه نجلۍ، باميان ولايت

سميرا، ۱۶ کلنه نجلۍ له باميان ولايت څخه ده، چې په کابل ښار کې يې له خپلې کورنۍ سره خوشاله ژوند تېراوه. د هغې پلار په پخواني حکومت کې د يو خصوصي ښوونځي مدير و. دوی ډېر ښه ژوند او هيله بښونکې زده کړې درلودې. هغې پلان درلود چې په سياسي علومو کې زده کړې وکړي او غوښتل يې چې نړۍ ته سفرونه وکړي او د بېلابېلو کلتورونو په اړه زده کړې وکړي.

«ما تل هيله لرله چې نړۍ ته سفرونه وکړم او خپلې تجربې پر ټولنيزو رسنيو شريکې کړم. ما د لېسې پای ته رسولو او په پوهنتون کې زده کړو پيلولو ته انتظار نه شو کولی چې سياسي علوم ولولم، خو څوک پوهيدل چې هره هيله، هره علاقه، هره لېوالتيا به په يوه شيبه کې له خاورو سره خاورې کېږي.»

د نجونو پر زده کړو بانديز له محدوديتونو وضع کولو وروسته، نومورې نه شو کولی چې نوره ښوونځي ته ولاړه شي او د زده کړو خوبونه رښتيا کړي. د هغې د پلار تنخوا له ۲۵۰۰۰ افغانيو څخه ۶۰۰۰ افغانيو ته راکمه شوله. دوی مجبور شول چې باميانو ته کډه وکړي ځکه چې د دوی لپاره په کابل کې ژوند کول له مالي اړخه ناشوني ول. «په هغه ورځ مې پلار پرېشانه کور ته راغی، مورږ ټول يې راغونډ کړو او راته يې وويل چې مورږ نور دلته (په کابل کې) د ژوند وس نه لرو. مورږ بايد باميانو ته لاړ شو چې ژوندي پاتې شو. ښه مې يادېږي چې په خپله کوټه کې مې ژړل ځکه چې هر څه له هرې زاويې د بدتريدلو په حال کې ول.»

د هغې پلار اوس په باميان ولايت کې ترکاري خرڅوي او سميرا ورسره مرسته کوي، که څه هم هغه له خپل کور څخه له محرم پرته نه شي وتلی او يوازې هغه وخت له محرم پرته ووځي چې کله د اړتيا له مخې روغتون ته ځي، او تور حجاب يې اغوستی وي. نومورې د ښوونځيو د تړلو پر مهال په ۶ ټولګي کې وه.

فرشته، د ۱۱ ټولګي زده کوونکې، ننګرهار

فرشته د پخواني حکومت په دوران کې د ننګرهار ولايت په بهسود ولسوالۍ کې د لېسې د ۱۱ ټولګي زده کوونکې وه. کله چې طالبانو واک ترلاسه کړ، د دوی پر مخ د ښوونځي دروازې وتړل شوه. فرشتې هيله درلودله چې په راتلونکې کې ډاکټره شي او خپل هيواد او ولس ته خدمت وکړي، خو هيلې يې پوره نه شوې.

«د کابل له سقوط يوه اونۍ وروسته، زما يادېږي چې غوښتل مې ښوونځي ته لاړه شم. دوی زمورږ د ښوونځي دروازې زمورږ په مخ کې وتړلې او مورږ ته يې وويل چې مورږ ښوونځي ته د ننوتلو اجازه نه لرو. ما د بل ښوونځي هلکان ليدل چې د ښوونځي احاطې ته ننوتل او يوازې نجونو ته اجازه نه ورکول کېدله. ما په هغه شيبه کې د يوې نجلۍ په توګه د زېږيدل کيدلو بد احساس کاوه. ما ځان لږ انسان احساسولو ځکه چې زما سره د يوې نجلۍ په توګه داسې چلند کيده.»

د هغې پلار د ناامالومو وسلوالو له خوا ووژل شو، او د کورنۍ سرپرستي يې ښځينه وو ته پاتې شوه او وضعيت د هغې او د کورنۍ لپاره نور هم خراب شو. د کورنۍ د نفقې پيدا کولو لپاره، نومورې د خپلو ګاونډيانو جامې مينځي او د کور کارونه ورته کوي چې د خپلو وړو ورونو او خويندو او همدا ډول د ناروغې مور لپاره د ژوند اساسي توکي

زرخشه، له پاکستان څخه راستنه شوې، د پخواني حکومت کارکوونکې، ننګرهار

زرخشه، د کورنیو چارو وزارت کې د جمهوریت د دورې پخوانۍ کارکوونکې پر هیواد د طالبانو له واکمنیدلو وروسته په وېره کې اوسېږي. هغې نه یوازې دا چې دنده یې له لاسه ورکړه، بلکې د خپل امنیت لپاره هم په وېره کې وي.

طالبانو د امارت د چارواکو له خوا نومورې ته د مرګ ګواښونه وکړل چې هغه یې د هیواد پرېښودلو ته مجبوره کړه. نومورې وویل «په پاکستان کې سره له دې چې زما قضیه تر شدید ګواښ لاندې شخص په توګه چې افغانستان ته د ګرځېدلو پر مهال له تعقیب سره مخ کیدلی شي، زه بیا هم یوه «غیرقانوني کډواله» وم چې هیڅ حالت مې نه درلود. ما ډېرې اندېښنې درلودې، هڅه مې کوله چې پر دسترخوان مې خواړه ولرم، په افغانستان کې د طالبانو سلوک او دا چې افغانستان ته له ستنیدلو وروسته به له څه ډول راتلونکې سره مخ کېږم.»

د وخت په تېریدلو سره، د هغې وېره په حقیقت بدله شوه، او هغې پرېکړه وکړه چې د شدیدې خورونې، او د پاکستاني پولیسو د غیرقانوني چلند له امله ته میاشت بېرته هیواد ته راستنه شي. نومورې په ژوره توګه اغېزمنه شوې وه، له رواني اړخه ډېره ځپل شوې وه، چې هیڅ رواني ملاتړ یې نه درلود. هغه اوس په افغانستان کې اوسېږي او له طالبانو وېرېږي. نومورې لیدلې دي چې دوی د پخواني جمهوري نظام له سرتېرو سره څه کوي. نومورې تر جدي ګواښ لاندې ده او تر هر بل وخت زیات د نړیوالو مؤسسو او نهادونو مرستې ته اړتیا لري.

«کله چې زه په پاکستان کې وم، که څه له خپل هیواد څخه په لرېوالي خوشاله نه وم، خو ما د خپلو ماشومانو لپاره د یوې روښانه راتلونکې هیلې لرلې او زه پوهیدم چې دوی به د خپل هیواد په پرتله په پاکستان کې ښې زده کړې وکړي. اوس چې زه بېرته هیواد ته راستنه شوې یم، په زده کړو کې د دوی لپاره هیڅ ښه راتلونکې نه وینم. او اوس زه د خپل پخواني مؤقف له امله په وېره کې ژوند کوم.»

موجود دي. د رواني روغتیا په زېربناوو کې یوازې یو رواني روغتون، په عامه روغتونونو کې څلور د رواني روغتیا څانګې، او د رواني روغتیا بستر نه لرونکي ګڼ محلي مرکزونه شامل دي. د یادونې وړ ده چې د رواني روغتیا پاملرنې ستره برخه د نادولتي مؤسسو له خوا د عامې روغتیا تر وزارت لاندې پرمخ وړل کېږي، چې په یو پراخ او تنوع لرونکي هیواد کې یې د رواني روغتیا د خدمتونو مدیریت نور هم پېچلې کړی دی.

*

51. https://www.who.int/mental_health/evidence/atlas/profiles-2017/AFG.pdf?ua=1

د ټولنې مباحثو کې له ۵۰۰ ښځو څخه راغونډه شوې لومړنۍ ډېټا ښيي چې ۸۶،۲٪ ښځينه ځواب ويونکي د رواني روغتيا د ستونزو له يو ډول څخه کړېږي. له دوی څخه ۸۲٪ ځواب ويونکو ويلي چې د رواني روغتيا خدمتونو ته د دوی لاسرسی په جدي ډول محدود شوی دی. دا موندنې د مېز پر سر بياکتنې سره ښې روښانه شوې دي چې د مېرمنو د ساحوي شبکې له خوا د دې څېړنې د يوې برخې په توګه ترسره شوې ده.

دې ټولو ښځو، په داسې حال کې چې د رواني روغتيا له ننګونو سره مخ وې، په ځانګړې توګه د انزايټي، اضطراب، او د ځانوژنې د فکرونو د تجربه کولو يادونه وکړه. د يادونې وړ ده چې تر ټولو زياتې دا ستونزې د نيمروز، کندز، باميان، او هرات په ګډونوالو کې مشاهده شوې دي. همدا ډول د يادونې وړ ده چې په دې ولايتونو کې د کورنۍ د غړو او د طالبانو له خوا د تاوتريخوالي راپورونه هم ورکول شوي و.

۱۳ جدول. د رواني روغتيا حالت



> “ما د بېوزلۍ له امله کافي اندازه رواني فشار وزغملو. زه ناروغه شوم ځکه چې د ماشومانو په اړه مې اندېښمنه وم. ما د پيسو د نشتوالي له امله معالجوي پاملرنه ترلاسه کولی نه شوه، او لا تر اوسه هم پوره رغيدلې نه يم.”
>
> - د بلخ يوه مېرمن چې د ټولنې په مباحثه کې يې ګډون کړی و

فاطمه، ژورنالیسته، بامیان ولایت

فاطمه یوه ژورنالیسته وه او مېړه یې په کابل کې ښوونکی و، چې کله طالبانو د دویم ځل لپاره افغانستان ونیو او جمهوریت سقوط وکړ. دوی ښه ژوند درلود او د ټولو ستونزو او په هیواد کې د اسانتیاوو له نشتوالي سره سره یې له خپلو بشري حقونو ګټه اخیستله. فاطمې د خپلې خوښې دنده لرله او هیله یې لرله چې په کابل کې په یو ښه پوهنتون کې حقوق ولولي چې مدافع وکیله شي. «له کوچنیوالي مې غوښتل چې مدافع وکیله شم. په افغانستان کې له ښځو سره غیرعادلانه چلند، زه اړ کولم چې له دوی څخه دفاع وکړم، خو څه مې نشول کولی. له همدې امله ما درک کړه چې زه باید نورې زده کړې وکړم چې له خپلو خویندو دفاع وکړم.»

په لومړیو کې نوموړې ژورنالیسته شوه چې رسنیو ته لاسرسی پیدا کړي او د افغان مېرمنو حقایقو ته پوښښ ورکړي. د هغې مېړه یې تر ټول کلک ملاتړی و او هیڅکله یې هغه له خپل کار او فعالیتونو څخه نه منع کوله، په ځانګړې توګه د خپلو هدفونو د لاسته راوړلو په برخه کې. نوموړې پوهیدله چې دا د هغې ایماني او وجداني وجیبه وه چې د افغانستان د مظلومو ښځو غږ اوسي او د دوی محرومیت په ډاګه کړي.

ناڅاپه د هغې ټول خوبونه د افغانستان د ټولو نورو مېرمنو په څېر تس نس شول چې کله طالبان بېرته راوګرځېدل او د تاریخ یوه بله توره پاڼه ایجاد شوه. «هغه ورځ مې یادېږي چې طالبان راغلل، کله چې خبر خپور شو چې طالبان په کابل ښار کې دي، پر ما د بې‌حسۍ شیبه راغله، لکه روح چې مې له بدنه وتلی وي. ځان مې نیم مړ احساساوه ځکه یواځینی فکر چې ما کولی شو دا و چې هر څه ختم شول، زموږ هیلې، زموږ ژوند، زموږ ازادي، هر څه!»

هغه نور د بې‌برخې شوو افغان مېرمنو د غږ په توګه دنده نه شي ترسره کولی، ځکه چې هغه د خپل کور په څلورو دېوالونو کې بنده ده او حتی له محرم پرته بازار او نږدې کلیو ته هم سفر نه شي کولی. نوموړې یادونه وکړه چې نور ورته هیڅ هیلې او امیدونه پاتې نه دي. اوس د هغې ستره اندېښنه ژوندي پاتې کیدل دي: د ژمي لپاره د یوې مړۍ ډوډۍ او سونتوکو پیداکول.

نوموړې وویل چې د یوې ښځې په توګه هغه هره ورځ ژور تبعیض احساسوي. د هغې مور او پلار ایران ته وتښتیدل او د خسرګنۍ ځای او ځایګی یې هیڅ معلوم نه دی. د دې ټولو ستونزو دردونو نوموړې «د لېونتوب تر پولو رسولې ده.»

«زه هره ورځ د ځانوژنې په اړه فکر کوم. زه یوازې د خپلو ماشومانو لپاره ژوند ته ادامه ورکوم. زه په دې وېرېږم چې له ما وروسته به د دوی برخلیک څه وي؟ د هرې ورځې په تېریدو سره مې ژوند نور هم سختېږي.»

نوموړې زیاته کړه چې «زه یوه ښځه وم چې دوه کاله وړاندې د څنګ ته شوو او محرومو ښځو غږ وم. اوس خپلې ستونزې ژاړم، خو هیڅوک مې غږ نه اوري.»

کله چې د رواني روغتیا خدمتونو ته د لاسرسي په اړه وپوښتل شوې، جوته شوه چې د ټولنې د مباحثو یوازې ۵٪ ګډونوالو دا وړتیا درلوده چې د رواني روغتیا ملاتړ کوم ډول ته لاسرسی ولري.

۱۴ جدول. د رواني روغتیا خدمتونو ته لاسرسی



صدف، د پوهنتون محصله او لاريون کوونکې، کابل

صدف په کابل پوهنتون کې يوه لايقه او د لوړ همت لرونکې محصله وه. نوموړې خپل خوبونه تعقيبول او د راتلونکي لپاره يې ستر پلانونه لرل. خو کله چې د کابل تر سقوط وروسته د ښځو پر مخ د پوهنتون دروازې وتړل شوې، د هغې نړۍ پر بل مخ واوښته. صدف چې په خپل کور کې کلابنده او تجريد شوې ده، وويل «ما داسې احساس وکړ چې خپل خوبونه مې له ګوتو ووتل. ما د هغو ورځو ارمان کاوه چې په ازادۍ سره په کې خپلې زده کړې پرمخ بوځم او په خپله ټولنه کې بدلون رامنځ ته کړم.»

يوه ورځ، د هغې د پوهنتون يوې ملګرې چې لاريون کوونکې وه له نوموړې سره اړيکه ونيوله. صدف په لومړيو کې زړه نا زړه وه، خو کله چې يې د خپلې ملګرې د مقاومت او استقامت کيسې واوريدې نو د هيلو ځرک يې وليد. هغې پرېکړه وکړه چې له خپلې ملګرې سره په لاريون کې ګډون وکړي، او د يوې شيبې لپاره يې ځان پياوړی او له نورو سره متحد احساس کړ چې د خپلو حقونو لپاره يې مبارزه کوله. نوموړې دې چارې ته ادامه ورکړه خو کله چې لاريونونه ډېر خطرناک شول، صدف پوهه شوه چې څومره خطر يې پر ځان منلی دی. نوموړې دا فکر له ذهن څخه نه شو ايستلی چې خپله کورنۍ او خپل ځان يې په زيان رسوونکي وضعيت کې اچولی دی. نوموړې د مرګ له ډېرو ګواښونو وروسته دا سخته پرېکړه وکړه چې له ياد خوځښت څخه په شا شي.

د هغې په وينا «هغه اوس په کابل کې ګرځي راګرځي، او په سخت مالي وضعيت کې د خپلو ورځنيو اړتياوو د پوره کولو هڅه کوي. نوموړې د ملاتړ هيڅوک نه لري، او ځان په داسې يو ښار کې يوازې او ورک احساسوي چې يو وخت يې د کور غوندې و.»

له هغو ننګونو سره سره چې نوموړې ورسره لاس او ګرېوان ده، صدف لا اميد له لاسه نه دی ورکړی. هغه پوهېږي چې په دې ستونزو کې يوازې نه ده او د هغې په څېر نور هم دي چې د ښه راتلونکي لپاره مبارزه کوي. نوموړې د پوهنتون د دورې يادونه او هغه ارمانونه چې يو وخت يې لرل، په کور کې تازه کوي، او د قوت او الهام د سرچينې په توګه پرې پايي. کله چې هغه د کابل د نامطمئن او ځورووونکي پس‌منظر څخه تېرېږي، صدف متعهده ده چې يوه حل لاره به مومي چې «خپل غږ او استازيتوب ترلاسه کړي، او د خپل ځان او د ځان په څېر نورو لپاره ښه راتلونکې جوړ کړي.»

د ټولنې د مباحثو په دوران کې، ګډونوالو په دوامداره توګه ټينګار کاوه چې سختو شرايطو پر ټول افغان ولس باندې د پام وړ رواني فشار اچولی دی، خو تر ټولو ژور اغېز يې پر ښځو او نجونو کړی دی. يوې ښځې وويل چې د دې محدوديتونو په وړاندې د لاريونونو په ځواب کې د طالبانو له خوا د غچ اخيستنې وېرې، ښځې مجبورې کړې دي چې خپل بوج په زړه يوسي، چې دا يې د رواني ناراحتۍ سبب ګرځيدلی دی. ډېرو نورو يې د رواني او عاطفي ملاتړ پر ښېرنۍ اړتيا ټينګار کاوه، خو له بده مرغه، د دې ډول خدمتونو موجوديت محدود دی، چې په لومړنۍ توګه د ولايتونو پر مرکزونو متمرکز دی، چې په لرې کليو کې اوسيدونکي خلک اساسي پاملرنې ته له لاسرسي څخه محروموي.

۵. بشردوستانه مرسته: په ناورين کې شکايتونه

په افغانستان کې د طالبانو بياواکمنيدلو د هيواد له وړاندې نازک او پر مرستو تکيه اقتصاد نور هم کمزوری کړی دی. د ۲۰۲۳ تر مې مياشت پورې، افغانستان د نړۍ تر ټولو شديد بشري ناورين دی، چې ۲۸،۸ مليونه افراد په کې مرستې ته سخته اړتيا لري. په لوړ شمېر، ۱۷ مليونه خلک له حاده لوږې سره لاس او ګرېوان دي، چې ۶ مليونه يې د قحطۍ پر غاړه ولاړ دي. د ښځو پر ګومارنه باندې د طالبانو محدوديت نه يوازې د دولت په اوسنيو چارو کې يو حياتي عامل دی، بلکې د هيواد د اقتصادي مسير په برخليک کې هم مهم دی.

په ۲۰۲۱ کې، طالبانو ټولو ښځينه ملکي مامورينو ته امر وکړ چې تر امرثاني پورې کار کول بند کړي. دا پرېکړه ببرته وانخيستل شوه، پر ځای يې، نور اوامر په

*

52. https://reliefweb.int/report/afghanistan/afghanistan-humanitarian-update-may-2023

53. https://civil-protection-humanitarian-aid.ec.europa.eu/news-stories/stories/2-years-after-taliban-takeover-afghanistans-population-need-urgent-humanitarian-assistance_en

54. https://news.un.org/en/story/2023/04/1135762

۱۵ جدول. بشردوستانه مرسته



راتلونکي کال کې ور اضافه شول چې د ښځو کار کول یې محدود کړل. په ۲۰۲۲ کې، ښځو په نړیوالو نادولتي مؤسسو کې هم د کار کولو حق له لاسه ورکړ. ورپسې، په ۲۰۲۳ کې، وضعیت هغه مهال نور هم خراب شو کله چې طالبانو د ملګرو ملتونو په اړونده ادارو کې هم د ښځو پر کار کولو بندیز ولګولو. همدا ډول دوی ۱۲۰۰۰ سینګارتونونه هم وتړل چې ښځو یې مالکیت درلود او پر مخ یې وړل چې په کې له ۶۰۰۰۰ څخه زیاتو ښځو خپله د عاید لومړنۍ سرچینه له لاسه ورکړه. په دې موده کې، ۶۰٪ ښځینه ژورنالیستانو هم خپلې دندې له لاسه ورکړې، چې ۹۰٪ یې د خپلو کورنیو یواځینۍ نفقه ګټونکې وې.

په داسې وخت کې چې د افغانستان خلک په بېړنۍ توګه بشردوستانه مرستې ته اړتیا لري، د ملګرو ملتونو په ادارو کې کارکوونکو ښځو باندې د کار بندیز لګولو د نړیوالې ټولنې غوسه او وېره راپارولې ده. پر دې سربېره، داسې ناراحته کوونکي راپورونه ترلاسه کېږي چې مرسته ښځینه سرپرست لرونکو کورنیو او ځنګ ته شوو ټولنو ته نه رسېږي. دا پرېکړې هم د بشردوستانه مرستې د اغېزناک وېش او اساسي ضرورتونو د وړاندې کولو مخه ډبوي.

د ټولنې له مباحثو څخه راغونډې شوې ډېټا څرګنده کړه چې ۷۴.۴٪ ځواب ویونکو هیڅ ډول مرسته نه ده ترلاسه کړې، په داسې حال کې چې د نورو بشردوستانه ستونزو ترځنګ، له حادو اقتصادی ننګونو سره مخ دي.

په ځانګړې او حیرانوونکې توګه، د بلخ یا هرات ولایت څخه د ټولنې د مباحثو ګډونوالو هیڅ ډول بشردوستانه مرسته نه ده ترلاسه کړې، چې په دې سیمو کې د مرستې وړاندې کولو په برخه کې د پام وړ خالیګاه ښودنه کوي. برعکس، دا ډېټا د بامیان، کندز او کابل ولایتونو څخه د ځواب ویونکو ترمنځ بشردوستانه مرستې ته په لاسرسي کې د پام وړ ستونزې څرګندوي: د بامیان ولایت یوازې ۱۰٪ یې بشردوستانه مرستو ته لاسرسی درلود، چې په کندز کې دا کچه هځوونکې ۸۵٪ وه؛ چې په کابل کې بیا دا کچه ۱۵٪ وه چې د بشردوستانه مرستو د ترلاسه کولو خبر یې ورکولو.

دا موندنې بشردوستانه مرستې ته د ښه عادلانه او دوامداره لاسرسي پر اړتیا باندې ټینګار کوي، په ځانګړې توګه په هغو سیمو کې چې اوس مهال په کې مرسته محدوده ده یا نشته.

55. https://news.un.org/en/story/2023/04/1135357

56. https://www.reuters.com/world/asia-pacific/beauty-salon-ban-afghanistan-blow-womens-financial-freedom-2023-07-21/

57. https://www.ifj.org/media-centre/news/detail/category/press-releases/article/afghanistan-87-of-women-journalists-have-suffered-discrimination-under-taliban-rule

58. https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/economy-development-environment/food-aid-in-a-collapsed-economy-relief-tensions-and-allegations/

59. https://www.undp.org/asia-pacific/press-releases/undp-warns-restrictions-womens-rights-will-worsen-economic-catastrophe-afghanistan

د پای ځپرکی

دا څېړنه پر هغو ژورو ننګونو باندې رڼا اچوي چې افغان مېرمنې ورسره د طالبانو تر واک لاندې مخ دي، چې د ژوند په بېلابېلو اړخونو کې د دوی د ستونزو په اړه یو هوښیاروونکیلیدلوری وړاندې کوي. دا موندنې د هغو ګڼمخیزو ستونزو په اړه یو جامع پوهاوی وړاندې کوي چې افغان مېرمنې یې اغېزمنې کړي دي، چې په کې تاوتریخوالی او ځورونه، تبعیض، د رواني روغتیا اندېښنې، عدالت ته لاسرسی، او بشردوستانه مرسته شامل دي.

دا ډېټا ښیي چې د افغان مېرمنو د پام وړ برخه، په روښانه منطقوي توپیرونو سره، د تاوتریخوالي ښکار دي. په نیمروز، هرات او بامیان ولایتونو کې راپور شوې د ګواښونو او ځورونو کچې د داسې تدابیرو لپاره بېړنۍ اړتیا څرګندوي چې د افغان مېرمنو خوندیتوب او هوساینه په کې تامین شي. د ښځو په وړاندې تبعیض او د تبعیض نور ډولونه هغه ننګونې نورې هم تشدیدوي چې دا زیانمنونکی قشر ورسره لاس او ګرېوان دی.

همدا ډول دا څېړنه په افغان مېرمنو کې د رواني روغتیا ناورین هم روښانوي، چې د انزایټي او ژور خپګان په څېر حالتونه په کې په ناراحتوونکې توګه په لوړه کچه کې دي. د رواني روغتیا خدمتونو ته لاسرسی محدود دی، چې ډېرې مېرمنې یې له اساسي ملاتړ څخه بېبرخې کړې دي.

پر دې سربېره، د ژورو ریښو لرونکو کلتوري خنډونو له امله عدالت ته د لاسرسي نه وړتیا او د مجازاتو وېره د هغو موانعو یو تیاره انځور وړاندې کوي چې ښځې ورسره د حقوقي شکایتونو د ثبتولو پر مهال مخ دي. د طالبانو له محکمو سره په ښکېلتیا کې زړه نا زړه کېدل او غیررسمي چینلونو ته ترجیح ورکول په عدلي سیستم کې بنیادي بېباوري او د چټکو اصلاحاتو ته اړتیا رامنعکسوي.

بشردوستانه مرستې ته لاسرسی، که څه هم په ځینو سیمو کې مشاهده شوی دی، د مرستې وړاندې کولو کې د پام وړ خالیګاه څرګندوي، په ځانګړې توګه په هغو سیمو کې چې ښځو په کې له حادو ننګونو سره د مخ کېدلو راپور ورکولو. د عادلانه وېش تامینول او هدف شوې مرسته مهمه ده.

د بدلون غوښتنه: سپارښتنې

د هغو افغان مېرمنو د غږونو او نظرونو په رانغاړلو سره چې زموږ د څېړنې پر مهال یې د ټولنې په مباحثو کې فعاله برخه اخیستې وه، موږ د «بدلون لپاره غوښتنې» یوه لړۍ وړاندې کوو چې د کلیدي سهم لرونکو لپاره ډلبندي شوې ده. دا سپارښتنې، چې د ملګرو ملتونو، نړیوالې ټولنې، فیمینستو تمویلوونکو ادارو، د افغانستان ښځینه رهبرانو، او فعالانو او مسلمان-اکثریت لرونکو هیوادونو پر کټګوریو وېشل شوې دي، د افغان مېرمنو له خوا کلکه «د عمل غوښتنه» وړاندې کوي، چې په افغانستان کې د ښځو د حقونو او پیاوړتیا د پرمختګ پر لور اساسي ګامونه بیانوي.

د دې عملي او ځانګړو سپارښتنو موخه د په ګوته شوو ننګونو او محدودیتونو ځوابول دي، چې د ښځو د حقونو خوندیتوب، د روانې روغتیا خدمتونو وړاندې کولو، عدالت ته لاسرسي، او له یوې جامع، متنوعې او قربانيمحوره تګلارې سره د بشردوستانه مرستې پر عادلانه وېش باندې ټینګار کوي.

ملګرو ملتونو ته سپارښتنې

- د افغانستان د قانوني حکومت په توګه د طالبانو په رسمیت پېژندلو او په ډیپلوماتیکو اړیکو کې له ښکېلېدلو څخه ډډه کول چې طالبانو سره له مرستې له څخه نور هیوادونه منصرف کړي.
- له ښځو سره د طالبانو چلند د جنسیتي ځورونې په توګه تصدیقول او د جنسیتي اپارتاید د ظهور په توګه یې په رسمیت پېژندل. ملګري ملتونه باید د مسؤلو کسانو د عدلي تعقیب په شمول، پرېکنده ګامونه واخلي چې د نړیوالو قوانینو دا شدیدې سرغړونې ودروي.
- د بشپړو پلټنو او تعقیبي څارنې لپاره د جزاء نړیوالې محکمې ته د طالبانو د کړنو، په ځانګړې توګه د جنسیتي اپارتاید، د راجع کولو لپاره عدالت غوښتنه کول. دا راجع کول باید له نړیوالو حقوقي اصولو سره مطابقت ولري او حساب ورکول تسهیل کړي.
- د طالبانو د رهبرۍ دننه کلیدي څېرو باندې تحریمات او د سفر بشپړ بندیزونه لګول چې د بشر حقونو د ناوړه استفادې د ترسره کولو یا عملي کولو مسؤلین دي، په ځانګړې توګه هغه چې د جنسیتي اپارتاید اړوند وي. دا ګامونه باید د دوی تګ راتګ محدود کړي، د دوی شتمنۍ کنګل کړي، او حساب ورکونې ته د نړیوالې ټولنې ژمنتیا په ډاګه کړي.
- د دې لپاره چې چې مستحقې ښځې له مرستو ګټه واخلي، سهمیه اختصاص کړي او د بشردوستانه مرستې عادلانه وېش تامین کړي، په ځانګړې توګه هغو ښځو ته چې په کوچنیو ولایتونو او لرې سیمو کې وي او یا د کورنۍ سرپرستي ور په غاړه وي. سیمه ییز توپیرونه باید درک کړل شي او د لرهکیو ټولنو ملاتړ وشي چې د ځورونې، تاوتریخوالي، حاشیهتوب په وړاندې زیانمنونکې وي.
- ملګري ملتونه باید د څنګ ته شوو نژادونو/ټولنو لپاره پلیټفارم وړاندې کړي چې خپل غږ پورته کړي او د افغانستان دننه یې حمایه کړي.

۱. نړیوال متحدین: د نړیوالې ټولنې نقش

- پر طالبانو باندې ډیپلوماتیک فشار اچول چې د ښځو حقونو ته درناوی وکړي، او پر زده کړو او کاري ځواک کې ګډون باندې تمرکز سره، په افغان ټولنه کې د ښځو د شمولیت لپاره د اندازه کېدلو وړ بنچمارکونه ایجاد کړي. په دې کې نړیوال تحریمات، د شرایطو پر بنسټ ښکېلتیا او د منزوي کولو ګواښونه شاملېدلی شي.

- د فیمینیستو بهرنیو پالیسیو رعایتوونکي هیوادونه هڅول چې په افغانستان کې د ښځو د حقونو خوندي کولو ته لومړیتوب ورکړي، چې په کې د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي او تبعیض درول شامل دي.

- افغان مېرمنو ته د تحصیلي سکالرشیپونو ورکول او د طالبانو د ظلمونو قربانیانو ته د پناه او خوندیتوب وراندې کول، هغو کسانو ته په لومړیتوب ورکولو سره چې په درېیمګړو هیوادونو کې دي.

- د ښځو په مشرۍ مؤسسو ته د نرمښت‌منونکي او توافق وړ فنډ ورکول، په ځانګړې توګه هغه چې په محکومو او څنګ ته شوو ټولنو پورې تړاو لري، چې د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي قربانیانو سره مرسته وکړي او خوندي یې کړي.

- د نړیوالو مذاکراتو د فورم پیلول چې افغان مېرمنې، ډیپلوماتان، پالیسي جوړوونکي او د بشر حقونو متخصصین په کې شامل وي، چې رغنیز بحثونه رامنځ ته کړي چې موخه یې په افغانستان کې د یو ټولشموله حکومت د ایجادولو ملاتړ کول وي، چې له جنسیت، طبقې، نژاد، یا ژبې پرته د اساسي بشري حقونو خوندیتوب تامین کړي.

۲. د بدلون پیاوړي کول: فیمینیستې تمویلوونکې ادارې

- د هغو ښوونیزو پروګرامونو حمایه کول او تمویلول چې په ځانګړې توګه د افغان مېرمنو لپاره طرحه شوي وي، چې په کې د زده کړو، مسلکي روزنو، او سوادزده کړې فرصتونه شامل دي چې د دوی اوږدمهاله پیاوړتیا تامین کړي. پر هغو ټولنو باندې تمرکز او له پامه نه غورځولو سره، د خپل تمویل په ټولو فرصتونو کې د ټولشمولیت او تنوع ډاډ ورکول، چې د طالبانو له خوا محکومې شوې وي.

- د ښځو لپاره د مسلکي او مهارتونو د پراختیا نوښتونه ترویجول چې ګومارنه زیاته کړي، په دې کې روزنې او تصدیق ورکول، او له لرې څخه د کار کولو د فرصتونو ایجادول شامل دي.

- په افغانستان کې او په نړیواله کچه د ښځو د حقونو له رسمي او ابتدایي اډووکیسي ډلو سره همکاري کول، چې د ښځو د حقونو د خوندیتوب لپاره حقوقي سلامشورې ترلاسه کړي. د هغو نوښتونو تمویلول چې د هغو ښځو لپاره حقوقي مرسته او ملاتړ وړاندې کوي چې له حقوقي ننګونو سره مخ دي.

- د څېړنې او د ډېټا راغونډولو د هلوځلو له لارې په افغان مېرمنو کې د رواني روغتیا پر ستونزو باندې پوهېدلو کې مرسته کول. د روغتیا پاملرنې او رواني ټولنیز ملاتړ خدمتونو تمویلول، چې په کې د مشاورت خدمتونه، د ملاتړ ډلې، او د تروما-مطلع پاملرنه شامل دي چې په اسانۍ سره ورته په ټول هیواد کې لاسرسی موجود وي.

- ۳۰٪ بشردوستانه مرستې او پراختیایي فنډونه باید د ښځو د مؤسساتو له خوا ووېشل شي.

- په جلاوطنۍ کې د ښځو د پلېټفارمونو او شبکو لپاره ملاتړ وړاندې کول چې د خپلې اډووکیسي هلوځلو ته دوام ورکړای شي او د هغو ښځو غږونه تقویت کړي چې په افغانستان کې د طالبانو له خوا محکومې او ځپل شوې دي.

۳. اتحاد لپاره د ایمان بسیج کول: مسلمان-اکثریت لرونکي هیوادونه

- له ښځو سره د طالبانو چلند د اسلامي اصولو خلاف عمل په توګه غندل او په مسلمان-اکثریت لرونکو هیوادونو کې د اسلامي علماوو او سیاسي رهبرانو پیغامونه تقویت کول، چې د ښځو د حقونو اړوند د طالبانو د محدودوونکو پالیسیو او معاصرو نړیوالو اسلامي کړنو ترمنځ خالیګاه په ډاګه کوي.

- د ډیپلوماتیکو چینلو، اقتصادي اړیکو، او د منطقوي همکارۍ میکانیزمونو له لارې پر طالبانو د فشار اچولو لپاره د هلوځلو همغږي کول چې طالبان وهڅوي چې د ښځو د حقونو اړوند خپلې پرېکړې بېرته واخلي.

- له خپل اغېز څخه کار واخلئ او پر طالبانو فشار راوړئ چې نجوني ښوونځیو ته او ښځې کار کولو ته پرېږدي، په ځانګړې توګه په هغو هیوادونو کې چې د طالبانو کورنۍ په کې اوسېږي او لوڼې یې د نړۍ په کچه زده کړو څخه برخمنې دي، په داسې حال کې چې د هیواد دننه نجونې له ښوونځي څخه منع شوې دي.

- همدا ډول مسلمان-اکثریت لرونکي هیوادونه باید د افغانستان د بېلابېلو توکمونو او ټولنو له ښځو او سړیو سره کار وکړي. تر اوسه پورې اخیستل شوي ګامونه یوازې د افغانستان د یو حاکم توکم لپاره یو پلېټفارم برابروي.

۴. د افغانستان ښځینه رهبرانې او فعالانې

- په جلاوطنۍ کې مدني ټولنه، افغان مېرمنې او فعالانې باید خپل ځانونه ښه منظم کړي چې په نړیواله کچه په افغانستان کې د ډیموکراسۍ د بیاراوستلو او د ښځو د حقونو د رعایتولو لپاره عدالت غوښتنه کې ښې اغېزناکې ثابتې شي.

- د بېلابېلو میکانیزمونو له لارې هلې ځلې همغږې کړئ او د بېلابېلو کمپاینونو، عدالت غوښتنې او څېړنې او مذاکراتو له لارې له دننه څخه د افغان مېرمنو د غږونو تقویت کولو ته ادامه ورکړئ.

- د طالبانو د جګړې جنایتونه او د ښځو د بشر حقونو سرغړونې مستندې کړئ او د جنسیتي اپارتاید تصدیقولو لپاره قضیه پرانیزئ.

- بین الافغاني مذاکرات رهبري او کوربه توب یې وکړئ او ټولنیه همغږي، یووالی او د طالبانو په وړاندې همغږی ملکي مقاومت ترویج کړئ.

- هغو مدني ادارو او ښځینه فعالانو ته پلېټفارمونه او څوکۍ مه ورکوئ چې د تمویل د فرصتونو او توکمیزو تړاوونو له امله د طالبانو د «سپینولو» لپاره کار کوي. دوی په افغانستان کې خپل حضور او کاري اړیکې د قانونیت په توګه وړاندې کوي چې د افغان ولس او ښځو یواځینی غږ اوسي.

ماخذونه

شبکه تحلیلگران افغان (سال 2022). کمک های غذایی در یک اقتصاد ورشکسته:کمک ها، زدوبند ها و ادعا ها. در لینک ذیل د افغان تحلیلگرانو شبکه. (۲۰۲۲). په سقوط شوي اقتصاد کېخوراکي مرسته: هوساینه، اندېښني او تورونه.https://www.afghanistan-analysts.org/ /en/reports/economy-development-environment/food-aid-in-a-collapsed-economy-relief-tensions-and-allegations

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت. (۲۰۱۱). د ښځو په وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون د ۱۸ مادې لاندې د غړو هیوادونو لخوا وړاندې شویو راپورونو ته پام کول. https://www2.ohchr.org/english/bodies/cedaw/docs/CEDAW.C.AFG.1-2.pdf

د بښنې نړیوال سازمان انګلستان. (۲۰۲۲، جولای۲۷). په افغانستان کېښځې: د پردې تر شا کیسه. د بښنې نړیوال سازمان، انګلستان. https:// www.amnesty.org.uk/womens-rights-afghanistan-history

باهوس،س (۲۰۲۳، اګست۱۵). د افغانستان په اړهد ښځو چارو لپاره د ملګرو ملتونو د دفتر د مشرې سیما باهوس بیانیه. https://www. unwomen.org/en/news-stories/statement/2023/08/statement-on-afghanistan-by-un-women-executive-director-sima-bahous

بینیټ، ر. (۲۰۲۳، فبروري ۹). A/HRC/52/84: په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت - په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه د ځانګړي راپور ورکوونکي ریچارډ بینیټ راپور. OHCHR. https://www.ohchr.org/en/documents/country-reports/ ahrc5284-situation-human-rights-afghanistan-report-special-rapporteur

بینوني،ک.(۲۰۲۲،دسمبر۹).په افغانستان کې د جنسیتي اپارتاید په وړاندې د مبارزې لپاره نړیوال مکلفیت – د کولمبیا د بشري حقونو د قانون بیاکتنه..Hrlr. /law.columbia.edu.https://hrlr.law.columbia.edu/hrlr/the-international-obligation-to-counter-gender-apartheid-in-afghanistan

باینم،ا.ک،. ایلیټ. (۲۰۲۳، اګست۱۱). د جبر دوه کاله: په افغانستان کې د ملکي وګړو په نښه کولو اړوند د طالبانو د تاوتریخوالي‌نخارل. ACLED. /https://acleddata.com/2023/08/11/two-years-of-repression-mapping-taliban-violence-targeting-civilians-in-afghanistan

کون، ډ.، او خان، س. (۲۰۲۳، جولای۶). "دوی مونږ پرته له کوم ملاتړڅخه پرېښودلو": په پاکستان کې افغانان د حل‌لارې په تمه دي. ریفوجیز انټرنیشنل. https://d3jwam0i5codb7.cloudfront.net/wp-content/uploads/2023/07/Pakistan_July2023_R-1.pdf

ډیویډیان،ا. (۲۰۲۲، جولای۲۵). مطبوعاتي لنډیز: په افغانستان کې د ښځو او نجونو وضعیت. د ښځو چارو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر - مرکزي دفتر. https://www.unwomen.org/en/news-stories/speech/2022/07/press-briefing-the-situation-of-women-and-girls-in-afghanistan

دي‌بینیدیتو، ل. (۲۰۲۲، نومبر ۱۷). له تیاروڅخهځان ایستل: د افغان ښځو د بشري حقونو د مدافعینو مبارزه د په رسمیت پېژندلو لپاره. وایس ایمپلیفاید. /https://voiceamplified.org/afghan-women-human-rights-defenders-fight-for-recognition

استرادا-تنک، ډ.، او بینیټ، ر. (۲۰۲۳). په افغانستان کې د ښځو او نجونو وضعیت. د بشر حقونو شورا. https://www.ohchr.org/sites/default/ files/documents/hrbodies/hrcouncil/sessions-regular/session53/advance-versions/A-HRC-53-21-AdvanceEditedVersion.docx

د فیمینیسټ اکثریت بنسټ. (۲۰۲۱). طالبان او افغان ښځې – د فیمینیسټ اکثریت بنسټ. د فیمینیسټ اکثریت بنسټ. https://feminist. /org/our-work/afghan-women-and-girls/the-taliban-afghan-women

د فیمینیسټ اکثریت بنسټ. (۲۰۲۳، اګست۱۵). د وحشت مهال ویش: د طالبانو له ۱۰۰څخه زیات فرمانونه، حکمونه او لارښوونې افغان ښځو او نجونو له بشري حقونو اوموجودیت څخه انکار کوي. میس میګزاین. https://msmagazine.com/2023/08/15/ /list-timeline-taliban-orders-women-girls-afghanist

ګال،ف. (۲۰۲۲). د ښځود مدني ټولنو د ننګونو، خنډونو، فرصتونو په اړهڅېړنه. /https://asiapacific.unwomen.org/sites/default files/2022-06/af-Research-on-Challenges-Barriers-Opportunities-women-CSOs_full-report_0.pdf

د بشر حقونو څار. (۲۰۲۲، اکتوبر ۲۰). افغانستان: ښځینه لاریون کوونکې د طالبانو ناوړه چلند بیانوي. د بشر حقونو څار. https://www.hrw.org/news/2022/10/20/afghanistan-women-protesters-detail-taliban-abuse

د بشر حقونو څار. (۲۰۲۳، سپتمبر ۸). افغانستان: د بشریت په وړاندې د طالبانو جنسیتي جرمونه. د بشر حقونو څار. https://www.hrw.org/sites/default/files/media_2023/09/Gender%20Persecution%20final_060923.pdf

حقوق او بشري حقونه | د عدلیې وزارت. (n.d.) Moj.gov.af. https://moj.gov.af/en/huquq-and-human-rights

آی ایف جی. (۲۰۲۲، مارچ ۹). افغانستان: ۸۷ سلنه ښځینه خبریالانې د طالبانو په واکمنۍ کې له تبعیض سره مخامخ شوې دي / IFJ. www.ifj.org. https://www.ifj.org/media-centre/news/detail/category/press-releases/article/afghanistan-87-of-women-journalists-have-suffered-discrimination-under-taliban-rule

دڅوریستانو نړیوال کمیسیون، او د ښښې نړیوال سازمان. (۲۰۲۳، می۲۵). د ښځو پر وړاندې د طالبانو جګړه: په افغانستان کې د جنسیتیځورونې د بشریت ضد جنایت. د ښښې نړیوال سازمان. file:///C:/Users/15719/Downloads/ASA1167892023ENGLISH-1.pdf

د بحران نړیوالهډله. (۲۰۲۳، فبروري ۲۳). د ښځو پر حقونو د طالبانو محدودیتونه د افغانستان بحران لا پسې ژوروي. www.crisisgroup.org. https://www.crisisgroup.org/asia/south-asia/afghanistan/329-taliban-restrictions-womens-rights-deepen-afghanistans-crisis

د افغانستان د اقتصاد وزارت. (۲۰۲۱). د افغانستان رضاکارانه ملي بیاکتنه۲۰۲۱. -https://sustainabledevelopment.un.org/content/documents/280392021_VNR_Report_Afghanistan.pdf

مچل، ډ. ف. (۲۰۱۷). په افغانستان کې د نادولتي موسسو حضور او فعالیت،۲۰۰۰-۲۰۱۴: د ولایت په کچه ډیټا سیټ. ثبات: د امنیت او پراختیا نړیوال ژورنال، 6(1)، 5. https://doi.org/10.5334/sta.497

نقوي، ا.، افشارزاده، م. س.، بریلوفسکیا، ج.، او تیسمن،ټ. (۲۰۲۲). په ۲۰۲۱ کې د طالبانو له واک څخه وروسته په افغان زده کوونکو کې رواني روغتیا او ځان وژنه. د عاطفي اختلالاتو ژورنال، 307، 178-183. https://doi.org/10.1016/j.jad.2022.04.001

نیازي،ا.، حیدر زاده، ا.س.، رنګیلووا، و.، عرفان، ا.، بشیري، ب.، نیازی،م.، فیضي، ن.، کونشوک-او، نلو، ه.، او ګریفیتس، م. ډ. (۲۰۲۳) . په افغانستان کې‌پهښځوکې د ژور خپګان خپریدل او وړاندوینې: یوهتقاطعیڅېړه. اروا‌پوهنه کشف کړئ، 7-7. /https://pesquisa.bvsalud.org/global-literature-on-novel-coronavirus-2019-ncov/resource/pt/covidwho-2274018

نیازي،ا.، حیدر زاده، ا.س.، رنګیلووا، و.، عرفان، ا.، بشیري، ب.، نیازی،م.، فیضي، ن.، کونشوک-او، نلو، ه.، او ګریفیتس، م. ډ. (۲۰۲۳) . په افغانستان کې‌پهښځوکې د ژور خپګان خپریدل او وړاندوینې: یوهڅ اړخیزهڅېړه. اروا‌پوهنه کشف کړئ، 3(1). /https://doi.org/10.1007/s44202-023-00068-4

نیازي، ا.، پادي، ب. ک.، محمدي، ا. ق.، احمدي، م.، عرفان، ا.، بشیري، ب.، نیازي، م.، اسحاق زاده، م.، نورمحمدي، م.، او ګریفیتس، م. ډ (۲۰۲۳) . ژور خپګان، اضطراب او د افغان میرمنو دژوند کیفیتچې د طالبانو په حکومت کې په ښاري سیمو کې ژوند کوي: یوه هر اړخیزهڅېړنه. ب م ج اوپن، 13(8)، e071939. https://doi.org/10.1136/bmjopen-2023-071939

OHCHR. (۲۰۲۳ الف). افغان میرمنې له شدید تبعیض، محدودیتونو او تاوتریخوالي سره مخ دي - د عالي کمیشنر مرستیال. //:OHCHR. https www.ohchr.org/en/statements/2023/06/afghan-women-suffer-extreme-discrimination-restrictions-and-violence-deputy-high

OHCHR. (۲۰۲۳ ب) . افغانستان: د ښځو او نجونو د حقونو سیستماتیکځپل. /OHCHR. https://www.ohchr.org/en/statements/2023/05/afghanistan-systematic-crackdown-womens-and-girls-rights-un-experts-say

OHCHR. (۲۰۲۳ ج، سپتمبر ۱۲). په افغانستان کې بشري حقونه د سقوط په حالت کې دي. OHCHR. https://www.ohchr.org/en/news/2023/09/high-commissioner-tells-human-rights-council-human-rights-afghanistan-are-state

پکوا، ج. (۲۰۱۹). د ترهګرۍ په وړاندې جګړه د "ښځو د حقونو او وقار لپاره د مبارزې" په توګه: د افغان میرمنو لپاره د متحده ایالتونو د "آزادۍ" کمپاینډ ډیسکورس تحلیل. https://digitalcommons.pepperdine.edu/cgi/viewcontent.cgi?article=2100&context=etd

رواداري. (۲۰۲۳). له عدالت انکار: د طالبانو تر کنټرول لاندې افغانستان کې د حقوقي او قضايي سیستمونو تحلیل. Rawadari.org. https://rawadari.org/wp-content/uploads/2023/06/RW_Rule-of-Law-Report-English.pdf

ریلیف ویب. (۲۰۱۵، جولای۲۲). د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پرېکړه لیک ۱۳۲۵ میرمنې، سولې او امنیتپه اړه د افغانستان ملي کاري پلان ۲۰۱۵-۲۰۲۲. Reliefweb.int. https://reliefweb.int/report/afghanistan/afghanistan-s-national-action-plan-unscr-1325-women-peace-and-security-2015-2022

ریلیف ویب. (۲۰۲۳، د جون ۱۵). افغانستان: بشردوستانه اپډیټ، می۲۰۲۳ - افغانستان. Reliefweb.int. https://reliefweb.int/report/afghanistan/afghanistan-humanitarian-update-may-2023

سټرتویټ، م. او بینیټ، ر. (۲۰۲۳). په افغانستان کې حقوقي مسلکي کسان له سختو خطرونو سره مخامخ دي، بیړني نړیوال ملاتړ ته اړتیا لري. https://www.ohchr.org/sites/default/files/documents/issues/ijudiciary/statements/2023-01-17/202301-stm-sr-ijl-sr-af-ghanistan-day-endangered-lawyer.pdf

د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړی عمومي څارونکی. (۲۰۲۲). په پخوانیو افغان ملي دفاعي امنیتیځواکونو کې د ښځو د ګومارنې، ساتنې او روزنې په برخو کېد امریکاد دفاع وزارت هلې ځلې. https://www.sigar.mil/pdf/audits/SIGAR-22-12-AR.pdf

ستیفن، پ. (۲۰۲۳، اګست۱۶). د طالبانو له واک څخه دوه کاله وروسته: د افغانستان خلک بیړنیو بشري مرستو ته اړتیا لري. مدني-محافظت-بشري-مرسته. https://civil-protection-humanitarian-aid.ec.europa.eu/news-stories/ec.europa.eu. stories/2-years-after-taliban-takeover-afghanistans-population-need-urgent-humanitarian-assistance_en

نړیوال بانک. (۲۰۲۰). د افغانستان د جنډر پس‌منظر. د نړیوال بانک د جنډرډیټا پورټل. https://genderdata.worldbank.org/countries/afghanistan/

د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام. (۲۰۲۳، اپریل۱۸). افغانستان: ملګري ملتونه وړاندوینه کوي چې د ښځو پر حقونو محدودیتونه به اقتصادي ناورین لا پسې خراب کړي. News.un.org. https://news.un.org/en/story/2023/04/1135762

UNDP. (2023). Afghanistan Socio-Economic Outlook 2023. UNDP. file:///C:/Users/15719/Downloads/SEO%202023-Executive%20Summary-Update%20-%20Ver%209%20-%20Final.pdf

UNESCO. (2023, January 18). Let girls and women in Afghanistan learn! Www.unesco.org; UNESCO. https://www.unesco.org/en/articles/let-girls-and-women-afghanistan-learn

UNHCR. (2023). Afghanistan Situation Regional Refugee Response Plan (RRP) 2022. Google.com. file:///C:/Users/15719/Downloads/Afghanistan%20Situation%20Regional%20RRP%202022_0-2.pdf

یوناما (۲۰۲۳، اپریل۴). د طالبانو فرمان افغان ښځې له ملګرو ملتونو سره له کار کولو منع کوي. News.un.org. https://news.un.org/en/story/2023/04/1135357

د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام. (۲۰۲۳). د افغانستان ټولنیز-اقتصادي لید۲۰۲۳. د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام. file:///C:/Users/15719/Downloads/SEO%202023-Executive%20Summary-Update%20-%20Ver%209%20-%20Final.pdf

یونیسکو (۲۰۲۳، جنوري ۱۸). په افغانستان کې نجونې او ښځې زده کړېته پرېږدئ! www.unesco.org؛ یونیسکو/https://www.unesco.org/en/articles/let-girls-and-women-afghanistan-learn

د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمېشنري. (۲۰۲۳). د افغانستان وضعیت د سیمهییزو کډوالو د غبرګون پلان(RRP) 2022.

Google.com. file:///C:/Users/15719/Downloads/Afghanistan%20Situation%20Regional%20RRP%202022_0-2.pdf

د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمېشنري. (۲۰۲۳، اکتوبر ۳). د افغانستان وضعیت. Data.unhcr.org; د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمېشنري

https://data.unhcr.org/en/situations/afghanistan

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت. (۲۰۰۱، نومبر ۱۷). د ښځو پر وړاندې د طالبانو جګړه. State.gov. https://2001-2009.state.gov/g/drl/rls/6185.htm

وفیق، م. (۲۰۲۲، اګست۲۶). افغان ښځینه متشبثینې د اقتصادي ازادۍ د ساتلو لپاره مبارزه کوي. یوازې امنیت. https://www.justsecurity.org/82788/afghan-women-entrepreneurs-battle-to-retain-economic-freedom/

د روغتیا نړیوال سازمان. رواني او معلولیتي روغتیا. د روغتیا نړیوال سازمان - د ختیځ مدیترانې سیمهییز دفتر. https://www.emro.who.int/afg/programmes/mental-health.html

د روغتیا نړیوال سازمان. WHOQOL-BREF| د روغتیا نړیوال سازمان. www.who.int. https://www.who.int/tools/whoqol/whoqol-bref

د روغتیا نړیوال سازمان(WHO). (۲۰۲۲، جون ۱۷). رواني روغتیا. د روغتیا نړیوال سازمان. https://www.who.int/news-room/fact-sheets/detail/mental-health-strengthening-our-response

یاور،م. ی.، او ګرینفیلډ، سي. (۲۰۲۳، جولای۲۴). په افغانستان کېپر سینګارتونونو بندیز د ښځو مالي ازادۍ ته یوګوزار دی. رویټرز.https://www.reuters.com/world/asia-pacific/beauty-salon-ban-afghanistan-blow-womens-financial-freedom-2023-07-21/

نوري سرچينې

Ahmadi, B. (2023, April 13). Taking a Terrible Toll: The Taliban's Education Ban. United States Institute of Peace. Retrieved September 13, 2023, from https://www.usip.org/publications/2023/04/taking-terrible-toll-talibans-education-ban

Barr, H. (2022, March 23). Taliban Close Girls' Secondary Schools in Afghanistan, Again. Human Rights Watch. Retrieved September 14, 2023, from https://www.hrw.org/news/2022/03/23/taliban-close-girls-secondary-schools-afghanistan-again

BBC. (2021, September 17). Afghanistan: Taliban morality police replace women's ministry. BBC. Retrieved September 14, 2023, from https://www.bbc.com/news/world-asia-58600231

BBC. (2022, November 14). Afghanistan: Taliban leader orders Sharia law punishments. BBC. Retrieved September 14, 2023, from https://www.bbc.com/news/world-asia-63624400

Constable, P. (2021, September 29). Kabul University shuts down as Taliban government bans women from campus, for now. Washington Post. Retrieved September 14, 2023, from https://www.washingtonpost.com/world/asia_pacific/kabul-university-taliban-women-students/2021/09/29/1d34873c-20b4-11ec-a8d9-0827a2a4b915_story.html

Countryeconomy.com. (2022). Afghanistan - Literacy rate 2021. Country economy.com. Retrieved September 9, 2023, from https://countryeconomy.com/demography/literacy-rate/afghanistan

Eqbal, S. (2022, October 29). Taliban Removes Women's Seat from Commission of Media Violations. Khaama Press. Retrieved September 14, 2023, from https://www.khaama.com/taliban-removes-womens-seat-from-commission-of-media-violations-57374/

Fadel, L., Thomad, S., & Isackson, A. (2021, September 22). Some Schools In Afghanistan Are Back, But Only For Boys. Girls Have Been Told To Wait. NPR. Retrieved September 14, 2023, from https://www.npr.org/2021/09/22/1039800029/some-schools-in-afghanistan-are-back-but-only-for-boys-girls-have-been-told-to-w

Farzan, A., Sadid, N., FitzGerald, J., & Ali, H. (2022, December 24). Afghanistan: Taliban ban women from working for NGOs. BBC. Retrieved September 14, 2023, from https://www.bbc.com/news/world-asia-64086682

Glinski, S. (2022, January 7). Taliban stop Afghan women from using bathhouses in Northern provinces. The Guardian. Retrieved September 14, 2023, from https://www.theguardian.com/global-development/2022/jan/07/taliban-stop-afghan-women-using-bathhouses-in-northern-provinces

Hadid, D. (2022, December 20). *T*aliban bans women in Afghanistan from attending university: Goats and Soda. NPR. Retrieved September 14, 2023, from https://www.npr.org/sections/goatsandsoda/2022/12/20/1144502320/the-taliban-took-our-last-hope-college-education-is-banned-for-women-in-afghanis

Hakim, A. F. (2023). Tracking the Taliban's (Mis) Treatment of Women. United States Institute of Peace. Retrieved September 14, 2023, from https://www.usip.org/tracking-talibans-mistreatment-women

Hakim, A. F. (2023, May 4). Tracking the Taliban's (Mis) Treatment of Women. United States Institute of Peace. Retrieved September 14, 2023, from https://www.usip.org/tracking-talibans-mistreatment-women

Human Rights Watch. (2023, August 17). *J*oint Statement: Marking Two Years of Taliban Oppression. Human Rights Watch. Retrieved September 13, 2023, from https://www.hrw.org/news/2023/08/17/joint-statement-marking-two-years-taliban-oppression

Kelly, A. (2011, February 24). Afghan girls' education backsliding as donors shift focus to withdrawal. The Guardian. Retrieved September 11, 2023, from https://www.theguardian.com/global-development/2011/feb/24/afghanistan-girls-education-report

Khalid, S. (2023, January 30). Hasht-e-subh Daily. Taliban in Kandahar Order Female Health Workers to Refrain From Going to Work Without Mahram - Hasht-e Subh Daily. Retrieved September 14, 2023, from https://8am.media/eng/taliban-in-kandahar-order-female-health-workers-to-refrain-from-going-to-work-without-mahram/

Knoema. (2021). Afghanistan Maternal mortality ratio, 1960-2022. Knoema. Retrieved September 12, 2023, from https://knoema.com/atlas/Afghanistan/Maternal-mortality-ratio

Kumar, R. (2022, July 18). Send us a man to do your job so we can sack you, Taliban tell female officials. The Guardian. Retrieved September 14, 2023, from https://www.theguardian.com/global-development/2022/jul/18/send-us-a-man-to-do-your-job-so-we-can-sack-you-taliban-tell-female-officials

Latifi, A. M. (2021, August 17). Taliban says will respect women's rights, press freedom. Al Jazeera. Retrieved September 13, 2023, from https://www.aljazeera.com/news/2021/8/17/taliban-says-will-respect-womens-rights-press-freedom

Medica Mondiale. (2022). 9 facts on women's rights in Afghanistan. Medica Mondiale. Retrieved September 12, 2023, from https://medicamondiale.org/en/where-we-empower-women/afghanistan

Muzaffar, M. (2021, August 17). Taliban urges women to join its government in Afghanistan. The Independent. Retrieved September 14, 2023, from https://www.independent.co.uk/asia/south-asia/afghanistan-women-taliban-government-amnesty-b1903880.html

Nader, Z., & Amini, N. (2022, March 2). The Taliban Are Harming Afghan Women's Health. Foreign Policy. Retrieved September 14, 2023, from https://foreignpolicy.com/2022/03/02/the-taliban-are-harming-afghan-womens-health/#cookie_message_anchor

The New Humanitarian. (2001, June 7). Afghanistan: Low literacy rates static for 20 years - Afghanistan. ReliefWeb. Retrieved September 11, 2023, from https://reliefweb.int/report/afghanistan/afghanistan-low-literacy-rates-static-20-years

The Observer Afghanistan. (2021, September 20). Kabul government's female workers told to stay at home by Taliban. The Guardian. Retrieved September 14, 2023, from https://www.theguardian.com/world/2021/sep/19/kabul-governments-female-workers-told-to-stay-at-home-by-taliban

Popalzai, E. (2021, November 22). Women banned from Afghan television dramas under new Taliban media rules. CNN. Retrieved September 14, 2023, from https://edition.cnn.com/2021/11/22/asia/taliban-women-banned-tv-drama-afghanistan-intl/index.html

PTI. (2021, August 21). Taliban bans co-education in Afghanistan's Herat province: Report. Mint. Retrieved September 14, 2023, from https://www.livemint.com/news/world/taliban-bans-co-education-in-afghanistan-s-herat-province-report-11629543264399.html

Radford, A. (2023, August 27). Afghanistan: Taliban ban women from visiting popular national park. BBC. Retrieved September 14, 2023, from https://www.bbc.com/news/world-asia-66633178

Ray, M. (2021, July 16). Taliban ask for list of girls above 15, widows under 45 to be married to their fighters: Reports. Hindustan Times. Retrieved September 14, 2023, from https://www.hindustantimes.com/world-news/taliban-asks-for-list-of-girls-widows-to-be-married-to-their-fighters-reports-101626413987086.html

Reuters. (2023, July 4). Taliban order closure of beauty salons in Afghanistan. The Guardian. Retrieved September 17, 2023, from: https://www.theguardian.com/world/2023/jul/04/taliban-order-closure-of-beauty-salons-in-afghanistan

UNESCO. (2023, January 18). Let girls and women in Afghanistan learn! UNESCO. Retrieved September ۲۰۲۳ ,۱۱, from https://www.unesco.org/en/articles/let-girls-and-women-afghanistan-learn

UNFPA. (2012). Family Planning. UNFPA Afghanistan. Retrieved September 12, 2023, from https://afghanistan.unfpa.org/en/node/15224

Wintour, P. (2023, April 4). UN concern after its female workers are 'banned' from working by Taliban. The Guardian. Retrieved September 14, 2023, from https://www.theguardian.com/world/2023/apr/04/un-concern-after-its-female-workers-are-banned-from-working-by-taliban-afghanistan

World Bank. (2023). Afghanistan Labour Force: Female: % of Total Labour Force | Economic Indicators. CEIC. Retrieved September 12, 2023, from https://www.ceicdata.com/en/afghanistan/labour-force/af-labour-force-female--of-total-labour-force

The World Bank. (2023). Maternal mortality ratio (modeled estimate, per 100,000 live births) - Afghanistan | Data. World Bank Data. Retrieved September 12, 2023, from https://data.worldbank.org/indicator/SH.STA.MMRT?locations=AF

The World Bank. (2023, April). Labor force participation rate, female (% of female population ages 15+) (modeled ILO estimate) - Afghanistan | Data. World Bank Data. Retrieved September 12, 2023, from https://data.worldbank.org/indicator/SL.TLF.CACT.FE.ZS?locations=AF

Yunus, M. (2022, May 16). Taliban dissolve Afghanistan's Human Rights Commission, other key bodies. Reuters. Retrieved September 14, 2023, from https://www.reuters.com/world/asia-pacific/taliban-dissolve-afghanistans-human-rights-commission-other-key-bodies-2022-05-16/

WOMEN'S REGIONAL NETWORK
AFGHANISTAN • PAKISTAN • INDIA

WOMEN'S REGIONAL NETWORK
Box 6552, Denver, CO 80206
Email: wrnoffice@womensregionalnetwork.org
X: @WRNnews
Facebook: www.facebook.com/WomensRegionalNetwork
Instagram: www.instagram.com/womensregionalnetwork

womensregionalnetwork.org